ګرانو پښتنو،

تر هر څه مخکې تاسو ته سلام وړاندي کوم او ستاسو د سوکالۍ او ښې ساري بریا دوعا کوم!

پښتانه خبري ډیري او عمل کم کوي، زما سره هم د نورو پښتنو په شان یو عالم ګیلې، وړاندیزونه، او تبصیري شته، خو زه به د عموم په خلاف، خپل خبري او دا یاداښت را لنډ کړم، ترڅو مو نور عمل ډیر او خبري کمې شي.

لومړی باید تاسو ته واضیح ولیکم چي ددې کتاب ژباړل مې یوازي او یوازي پښتو او پښتنو ته د خداېې خدمت په نیت او اراده کړی، غیر له کومې سیاسي او شخصي موخې څخه. په ویرجنیا کې د څلورو کالو اوسیدو وروسته مې دا اړتیا حِس کړه چي باید همدغه د DMV MANUAL پښتو ته وژباړم ترڅو هغه پښتانه چي د انګلیسي سره پوره بلدتیا نه لري ور څخه بشپړه استفاده وکړي، ځکه د لایسنس اخیستلو لومړی شرط د ویرجنیا په ترافیکي قوانینو پوهیدل او د همدغه کتاب زده کول دي. دا کتاب نه یوازي په ازمایښت کې د بریالي کیدو په موخه بلکه د قانون سره سم د موټر چلولو او د ځان ساتلو پخاطر وواېو او ځان ورباندي پوه کړو. د کورنۍ بوختیا، وظیفي او نورو مصروفیتونو له وجهي ددې کتاب ژباړني شاوخوا دري میاشتي وخت ونیوی.

پوهیږم چي پښتو بیلابیلي لهجي او کلیوالي اصطلاح ګاني لري، بلخصوص د لر او بر، د لوی کندهار او لوی پکتیا او یا هم د خوست او ننګرهار ولایتونو لهجي چي بلکل یو له بل سره توپیر لري، خو ما پوره هڅه کړې چي ژباړه مې د کلیوالي او ولایتي (هلمندي) لهجو تر آغیز لاندي را نشي، لکه د پښتو یا ګانو مراعتول او د (سي) پر ځای (شي) لیکل. بل دا چي، د ډیري کره او سوچه پښتو لیکلو څخه مې هم ډډه کړې، نو ځکه تاسو شاید د فارسي او عربي ژبو لغاتونو شاهدان هم واوسی، ځکه غواړم چي دا کتاب د هر پښتون لوستوونکی دپاره ګټور او د استفاده وړ وګرځي.

بیا هم کچیري زما څخه په ژباړلو کې تیر وتنه شوي وي، یا وړاندیز او مشوره راته لری، هیله ده چي ددغه بریښنالیک (ایمیل) له لاري راسره اړیکه ونیسی: mateen.zakir@gmail.com

هیله ده چي ستاسو د استفادي او ګټي وړ وګرځي!

ددې کتاب ژباړونکی او ستاسو خادم


متین ذاکر

www.dmvNow.com

# Virginia Driver's Manual

Virginia Department of Motor Vehicles





## د ډي ايم وي لخوا

دا کتاب ستاسو سره مرسته کوي ترڅو د ويرجنيا د موټر چلولو په قوانينو او طريقو و پوهيږی. که غواړی چي د موټر چلولو آزموينه کښې بريالي شی، د موټر چلولو جواز ترلاسه کړی، او ويرجنيا کښې په ډاډه زړه او خوندي ډول موټر وچلوی، نو همدغه کتاب په سمه توګه درسره مطالعه کړئ.

کوم مالومات چي دې دي کتاب کښې راټول شوي، يوازي او يوازي د موټرچلولو او د هغه د قوانينو اړوند دي، نه د ويرجنيا عمومي قانون، کوم چي پراخ او ټول شموله دی.

که غواړی چي موټر چلول زده کړی، نو دا کتاب ستاسو لپاره يو مهم او مالوماتي لارښود دی ترڅو تاسو د آزموينې لپاره چمتو کړي. خو که تاسي له مخکې دويرجنيا د موټر چلولو جواز لری، نو دا کتاب د نوو معلوماتو او قوانينو په موخه درسره ګورئ.

ويرجنيا کښې موټرچلول يو امتياز دی، حق ندی. نو لحاظا، کله چي تاسي سړک ته راوځی، د خپل ځان او نورو موټر چلوونکو سره زيات احتياط کوئ.




## Contents


لومړی برخه ... 1

آزموینه ... 1

آزموینه یا امتحان ... 1

عملي آزموینه/امتحان ... 3

د سترګو د دید ازمایښت ... 3

د سترګو د دید معیارونه ... 3

سمبولونه، نښې، او د سړک اړوندي نښې ... 4

ترافیکي اشاري ... 4

ترافیکي نښې ... 6

د نښو شکلونه ... 7

د خوندي موټرچلولو لارښود ... 22

**د دریدلو واټن** ... 24

**انټیلاک بریکونه** ... 25

**Yieldد نښې لاس ځخه تیریدل یا حق اولیت ورکول او یا هم** ... 25

**ځای پر ځای ولاړ موټران** ... 26

**ځرخک لاره** ... 26

**لین بدلول** ... 27

**تیریدل** ... 28

د موټر کنترول له لاسه ورکول ........ 28
تاویدل یا ګرځیدل ........ 29
بیرته راګرځیدل یا U-Turn ........ 29
د لاس اشاره ........ 29
د واټن مراعتول ........ 30
لټون ........ 31
تیاره ځای یا Blind Spot ........ 31
د نورو سره د سړک شریکول ........ 31
بایسکل ........ 32
موپېډ یا نیمه موټرسایکل ........ 32
موټرسایکل ........ 32
بربېښنایې یا برقي ریل ګاډه ........ 32
غټ موټران ........ 33
ټریلران ........ 34
شا ته تلل یا ریورس ........ 34
دموټر درول ........ 34
پر غونډۍ موټر درول ........ 34
هغه سړک چي غاړه یې پخه وي یا پیاده رو لري ........ 34
هغه سړک چي غاړه یې خامه وي یا پیاده رو نلري ........ 35
دید یا لیدلوری ........ 35
څراغونه یا اشاري ........ 35
خطرناکه حالات ........ 36
دشپې لخوا موټرچلول ........ 36
غُبار ........ 36
باران ........ 36
واوره ........ 36
د خطرناکه موټرچلولو رویه ........ 36
قهرجن چلاو ........ 36
ځان وساتی ........ 37
د موټر چلولو پرمهال په بل شي ځان مشغولول ........ 37
دا لاندي لارښوونو ته پام وکړی: ........ 37
د خوب په حالت کي موټرچلول ........ 37
د نشې په حالت کي موټرچلول ........ 38

ترافيکي پيښي.......... 38
د هوسۍ سره د ټکر خطر.......... 39
**د پوليسو لخوا دريدل**.......... 39
**څلورمه برخه**.......... 40
کمربند، د ټکر کڅوړه يا ايربيک او د ماشومانو سيټ يا چوکۍ.......... 40
کمربند .......... 40
د ټکر کڅوړه.......... 40
د ماشومانو چوکۍ يا سيټونه.......... 41
**پنځمه برخه**.......... 42
مجازات/ جريمې .......... 42
دdmvنور شرايط، د جواز لغوه او ځنډول .......... 43
د موټروان د اصلاح پروګرام.......... 43
تر اتلس کلنۍ کم .......... 44
اتلس کلن يا نوولس کلن.......... 44
اتلس کلن يا لوړ.......... 44
د طبي معاينې پروګرام .......... 44
د بيمې د څارلو پروګرام.......... 45
د ماشومانو د مرستې شعبه.......... 45
الکهول (شراب) او قانون .......... 45
د لايسنس د اخيستلو اداري پروسه .......... 45
په موټر کې سرخلاصه الکهولي مشروبات.......... 46
په نشه حالت کې د ماشومانو وړل .......... 46
دموټر ضبط.......... 46
خساره .......... 46
د الکهولي يا حرامو مشروباتو پير و پلور.......... 46
د حرامو مشروباتو برابرول .......... 46
غلط عمر ښودل .......... 47
شپږمه برخه.......... 47
د جواز يا لايسنس ډولونه .......... 47
د موټرچلولو اجازتليک يا Learner's Permit .......... 47
جواز سير يا لايسنس.......... 48
د سوداګريز موټر جواز يا CDL .......... 48
دښوونځی د بس جواز.......... 48

دموټرسایکل لپاره اجازتلیک....48
دموټرسایکل جواز سیر یا لایسنس ....48
نړیوال جواز سیر....48
اوومه برخه ....49
نور اړوند او مهم مالومات....49
د پوست د لاري د جواز سیر ترلاسه کول....49
د آدرس بدلول....49
ویرجنیا ته کوچ کول....49
د موټر پلیټ او راجستر ....50
د موټر ارزیابي....50
د موټر ارزیابي کول ....50
د بیمه کولو شرایط....50
د رایې ورکولو لپاره نوم لیکنه....51
د بدن د غړو خیراتول....51
آتمه برخه....51
د نظري ازمایښت یوه نمونه ....51



## لومړی برخه

### آزموینه

د کتاب په دغه برخه کښې به تاسي لاندي موضوعات زده کړی:

- د آزموینې اړوند معلومات چي پر دوو برخو وېشل شوې
- د موټر چلولو عملي آزموینه
- د سترګو د دید آزمایل
- د سترګو د دید معیارونه

دا چي آزموینه یا امتحان به یوه برخه وي که دوې، په DMV کښې د مسوول کس صلاحیت دی. خو د سترګو د دید آزمایل یا سکرېنینګ حتمي دی.

### آزموینه یا امتحان

هر هغه څوک چي د امریکا متحده ایالاتو، کاناډا، جرمني، فرانسې، او یا هم د کوریا د موټر چلولو جواز یا لایسنس ونه لري، مکلف دی چي د ترلاسه کولو لپاره دغه آزموینه/امتحان ورکړي. نوموړی امتحان پر دوو برخو ویشل شوی دی: لومړی برخه یې لس (۱۰) سوالونه لري چي د ترافیکي اشارو، اړونده قوانینو، او محتاط چلاو باندي راڅرخي. دوهمه برخه یې د څلور ځوابه سوالونو څخه جوړه ده ترڅو د موټر چلولو په اړه ستاسي عمومي علمیت وه آزموېږي. د یادوني وړ ده چي تاسو باید لومړی لس سره سوالونو ته ځوابونه ورکړی ترڅو دوهم پړاو یا برخي ته بریالي شی. د دوهم پړاو څخه هم باید لږ تر لږه اتیا سلنه سوالونه حل یا ځواب کړی. ټول سوالونه د همدې کتاب څخه جوړ او رایستل شوي، نو ډېره مهمه ده چي تاسي دا کتاب په ښه ډول زده او یاد کړی.

*که چیري تاسي په آزموینه کښې ناکامه شی او ستاسي عُمر/سن:*

- ➢ د اتلس ( ۱۸) کلنۍ څخه کم وي، نو تاسي باید پوره ۱۵ ورځي انتظار وکړئ ترڅو د دوهم ځلي لپاره آزموینه ورکړی. دمثال په ډول، که چیري تاسي په ۱ جنوری ناکام شی، تاسي کولای شی چی په ۱۷ د جنوری دوهم ځل آزموینه ورکړی.
- ➢ د اتلسو (۱۸) کالو یا لوړ وي، او غواړی چي د ۱۵ ورځو دننه/ جریان کښې دوهم ځل لپاره امتحان ورکړی، نو مکلف یاست چي ۲ ډالره فیس ورکړی.

تاسي کولای شی چي دا آزموینه د ورځي په جریان کي یوازي یو ځل ترسره کړی. ټول سوالونه به تاسي ته په ږغیز ډول هم اماده شي. آزموینه په بیلابیلو ژبو ژباړل شوي ده، نو کچیري ستاسو مورنۍ ژبه باندي موږ د آزموینې اړونده مواد درته په واک کښې درکړو، په هغه صورت کي به ژباړونکي ته اجازه ورنه کړل شي، اما کچیري ستاسو مورنۍ ژبه زموږ سره په سیستم کښې نه وي، نو بیا ستاسو سره مل ژباړونکي ته د مرستي کولو اجازه ورکوو.

کچیري تاسي آزموینه کښې دري ځلي ناکامه شی، د څلورم ځل چانس نه درکول کیږي. نو تاسي چي مکلف یاست چي د موټر چلولو د جواز اخیستلو کورس یا درس وواياست. تاسي کولای شی چي نوموړی آته (۸) ساعته کورس یا په انلاین او یا هم عادي ډول سره ترسره کړی.

*د کورس د ویلو شرایط په لاندي ډول دي:*

- هغه کسان چي عمرونه يې د اتلسو کالو یا هم لوړ وي کولای شي چي دا کورس د همدې کتاب مطابق تکمیل کړي، خو پدې شرط چي د کورس د بشپړیدو نیټه باید د دریم ځل آزموینې وروسته وي. کله چي مو کورس بشپړه کړی، د بشپړیدا تصدیق یا سرټفکیټ د ترافیکو ریاست یا ډي ایم وي ته ورکړی ترڅو وکولای شی چي د څلورم او پنځم ځل لپاره آزموینه ورکړی.
- هغه کسان چي عمرونه يې د اتلسو کالو څخه کم وي باید ددې کورس تر ویلو مخکې يې د موټر چلولو درس په ټولګی کښې ویلی وي او هغه سرټفکیټ ورسره وي ترڅو په آته ساعته کورس کې ورته داخله ورکړل شي.

*د ازموینې په وخت کې دا لاندي ټکي په نظر کښې ونیسئ:*

- د آزموینې په جریان کې نقل ورکول او نقل اخیستل دواړه منع دي.
- مخکې له آزموینې د سوالونو او ځوابونو اخیستل او یا هم بل چاه ته ورکول منع دي.
- دآزموینې په جریان کښې دموبایل تلیفون څخه کار اخیستل منع دي.

دآزموینې یوه نمونه دکتاب په آتمه برخه او www.dmvnow.com کی شتون لري.

د معیوبینو خدمت:

هغه کسان چي معیوب دي او مرستي ته اړتیا لري کولای شي چي د آزموینې په ورځ مسوول کس ته خبر ورکړي ترڅو یي هغوی مرسته وکړای شي.

## عملي آزموینه/امتحان

هر هغه څوک چې د امریکا متحده ایالاتو، کاناډا، جرمني، فرانسې، تایوان، او یا هم د کوریا د موټر چلولو جواز یا لایسنس ونه لري، مکلف دی چې تر تحریري امتحان وروسته عملي امتحان ورکړي. د عملي امتحان ترسره کولو لپاره تاسي باید یو موټر د ځان سره ولرئ. نوموړی موټر باید بشپړه اسناد، پلیټ، ثبت کارت یا رجسټریشن، او ټول جوازونه ولري. او موټر باید ښه جوړ وي، مثال بریک یې سم کار وکړي، د موټر دننه کمربندونه ولري، آرانګ، بتۍ یا څراغونه او د بغل هنداري يې ټولي جوړې وي.

*د عملي آزمویني د ترسره کیدو لپاره دا لاندې شیان اړین دي:*

- د د تحریري یا لومړنۍ آزمویني تصدیق خط درسره وي، او یا هم
- د ډي ایم وي لخوا ورکړل شوي فورمه دې ډکه کړې او تکمیل کړې وي.

هغه کسان چې عمرونه یې د اتلس کلنۍ څخه کم وي، د عملي آزمویني د ورکولو اړتیا نشته ځکه د هغوی څخه عملي او نظري آزمویني دواړې د کورس جریان کې اخیستل کیږي.

خو هغه کسان چې عمرونه يې د اتلس کلنۍ څخه لوړ وي، باید تر عملي آزمویني او لایسنس اخیستلو مخکې د Learner’s Permit د ۶۰ ورځو لپاره واخلي. هغه کسان چې د موټر چلوني کورس وايې هغوی بیا ډی ایم وي کښې عملي آزمویني ورکولو ته اړتیا نه لري ځکه هم هغه کورس کښې ورته دواړه هم عملي او هم نظري زده کړه ورکوي. تاسي کولای شي یوازي دري ځلي عملي آزموینه ورکړی، کچیري تاسي دري سره ځله په عملي آزموینه کښې ناکامه شی نو بیا مجبوره یاست چې د عملي زده کړي لپاره د موټر چلولو کورس ووایاست.

## د سترګو د دید ازمایښت:

ددې لپاره چې ستاسو د سترګو دید معاینه کړل شي، تاسي باید په DMV کښې دننه چې کوم دوربین ډوله ماشین پروت دی وګورئ او د هدایت مطابق چې کوم توري درته ښوول کیږي هغه په لوړ اواز بیرته د DMV کارمند ته تکرار کړئ. د سترګو آزموینه ددې دپاره ترسره کیږي چې موږ ډاډه شوو چې تاسي د موټر چلولو ته چمتو یاست، خو کچیري ستاسي د سترګو دید کم وي نو شاید د سترګو ډاکټر ته مو د تداوی دپاره معرفي کړو.

که کوم کس د آزمویني پر وخت عینکي پر سترګو کوي نو د موټر چلولو پر وخت هم باید عینکي پر سترګو کړي. د عینکو پر سترګو کوونکو لایسنس کښې به بیا C درجه لیکل کیږي. خو که غواړی چې دغه محدودیت ستاسی د لایسنس څخه ایسته شي، نو تاسي باید د DMV دفتر ته مراجعه وکړی.

## د سترګو د دید معیارونه:

نامحدود لایسنس

- د یوې یا دواړو سترګو دید یا نظر باید ۴۰/۲۰ وي، او
- ۱۱۰ درجې یا لوړ د یوې یا دواړو سترګو افقی دید/نظر

محدود شوی لایسنس

- د یوې یا دواړو سترګو دید یا نظر باید ۲۰/۷۰ وي، او
- افقي دید/نظر باید ۷۰ یا بهتر درجه کې وي. که چیري ستاسي صرف یوه سترګه کار کوي، تاسی باید لږ تر لږه ۳۰ درجې بغلي او ۴۰ درجې مخامخ دید ولرئ.

کوم کسان چې د لایسنس پدغه درجه بندی کښې راشي، هغوی یوازې تر لمر ختلو وروسته او تر لمر لویدلو مخکې یعني د ورځې لخوا د موټر چلولو جواز لري.

## دوهمه برخه

### *سمبولونه، نښې، او د سړک اړونده نښې*

پدې برخه کښې به تاسي دا لاندې موضوعات زده کړئ:

- ترافیکي اشارې
- ترافیکي نښې
- د سړک اړونده نښې
- رنګ شوي سړکونه

ټول ترافیکي سمبولونه، اشارې او نښې چې تاسو یې دې کتاب کښې لولی او یا مو هم د سړکونو پر سر لیدلي وي او یا به ددې وروسته ورسره مخامخ شی یوازې د ترافیکي نظم او موټر چلوونکو د خوندیتوب لپاره نصب شوي او په کار اچول شوي دي. نو ډیره اړینه ده چې تاسو هم ددې ترافیکي اشارو، نښو او نښانونو مراعت وکړئ. ددې نښو او اشارو څخه سرغړونه غیر قانوني عمل دی او د قانون څخه د سرغړونې په صورت کې به تاسي جریمه شئ.

## ترافیکي اشارې

ترافیکي اشارې د موټرچلوونکو، موټرسایکل چلوونکو، بایسکل چلوونکو، ویلچیر چلوونکو، او پیاده لپاره دي او ټولو باندې یو شان تطبیق کیږي.



**سره اشاره:** څرنګه چې اشاره سره شي، تاسي باید په مکمل ډول سره خپل موټر ودروئ. ترڅو چې اشاره بیرته زرغونه شوي نه وي تاسي همداسي دریدلي پاته شئ، خو کچیري په راسته لاس د ګرځیدو اجازه وي، تاسي تلی شئ.

**په سره اشاره راسته لاس ته ګرځیدل:** تردې مخکې چې تاسي راسته یا ښیې لاس ته وګرځئ، باید مکمل توقف وکړئ او وروسته چې کله درته مالومه شول چې سړک خالي دی، په احتیاط حرکت وکړی او راسته لاس ته

وګرځئ. خو کچیري لیکلي وي چي No Turn on Red او یا هم د راسته لاس اشارې سور ویکتور علامه لګولې وي، تاسي باید پر راسته لاس ترڅو چي اشاره زرغونه شوي نه وي د ګرځیدو څخه ډډه وکړئ.

**په سره اشاره چپه لاس ته ګرځیدل:** تاسي یوازي هغه وخت کولای شی چي په سره اشاره باندي چپه یا کیڼ لاس ته وګرځی چیري چي د یوې یو اړخیزي کوڅي څخه بلي یو اړخیزي کوڅي ته ننوځی، خو کچیري لیکلي وي چي No Turn on Red او یا هم د چپه لاس اشارې سور ویکتور علامه لګولې وي، تاسي باید پر کیڼ لاس ترڅو چي اشاره زرغونه شوي نه وي د ګرځیدو څخه ډډه وکړئ.



**سور ویکتور:** سور ویکتور ډوله اشاره پدې مانا ده چي تاسي نه شی کولای چي د اشارې د زرغونیدو مخکي هم هغه خوا ته وګرځی اما کچیري لیکلي وي چي Right on Red Arrow After Stop او یا هم Left on Red Arrow After Stop بیا هم هغه خوا ته ګرځیدل ستونزه نه ده او تاسو د پوره توقف/دریدا وروسته ګرځیدلی شئ. د ویرجنیا قانون عموماً پر سره ویکتور اشارې ښې او کیڼ لاس ته ګرځیدل منع کوي.

یادونه: که چیري تاسي بل ایالت ته سفر کوی، نو کوښښ وکړی چي ځان د هغه ایالت په ترافیکي قانون باندي پوه او خبر کړئ، خصوصاً راسته او چپه لاسونو ته د ګرځیدو قانون باندي.



**د سره څراغ/اشارې ځلیدل:** کله چي تاسي د ځلیدلي سرې اشارې سره مخ شی نو لومړی به موټر مکمل دروئ بیا به دواړو خواوو ته ګوری او چي کله لاره خالي شوه نو حرکت به کوی اما که د ریل ګاډی سړک باندي داسي اشاره لګول شوي وه نو بیا به حتماً دریږئ ترڅو چي لاره خلاصه شوي نه وي.

**د سره ویکتور ځلیدل:** ودریږئ او خپل ښې او کیڼ لاس ته وګوری، هر وخت چي پیاده رو او سړک خالي شو، تاسي کولای شی چي تیر شئ.



**ژړه اشاره یا ویکتور:** ژړ ویکتور او ژړه اشاره دواړه د احتیاط او خبرتیا په موخه لګول شوي دي. کله چي اشاره او یا هم ویکتور ژړ شي او ستاسي د موټر د دریدلو امکان وي، مانا خطر نه وي، نو په کراره مو موټر ودروی او که یې د دریدو امکان نه وي نو همدغسي په احتیاط  تر تېر شئ. خو د ژړي اشاري څخه د تیریدو په خاطر به تلوار او تیزوالی نه کوئ.



**د ژړي اشارې ځلیدل:** ددې اشاري مانا داده چي تاسي د تیریدو په وخت کي د احتیاط څخه کار واخلی. د دریدلو په مانا نه ده.

**د ژړ ویکتور ځلیدل:** دا پدې مانا ده چي که چیري سړک خالي وي، کوم موټر، موټرسایکل او یا هم پیاده خلک ستاسو په مخ کي نه وي نو تاسو کولای شی چي په احتیاط خپل پر لاره ولاړ شئ.



**زرغونه اشاره یا ویکتور:** زرغونه اشاره او زرغون ویکتور دواړه پدې مانا دي چي تاسي همداسي روان واوسئ، دریدلو او کراریدلو ته اړتیا نشته، بس همداسي د قانوني سرعت مطابق روان واوسئ. خو کچیري اشاره او ویکتور زرغون هم واوسي او ستاسي مخ ته کوم کس پیاده او بل کوم موټر راشي نو تاسي ته لازمه ده چي موټر یا کرار او یا هم ودروئ ترڅو

هغوی تیر شي او سړک درته خالي شي. (یادونه: ځیني پښتانه زرغون رنګ ته شین رنګ هم وایي، نو چي مشوش نشی، دا هم هغه شین رنګ دی چي تاسو ورته وایاست).

**د کاره لوېدلي نښې:** کله چي د برېښنا د نه شتون او یا هم کوم بل عفت له وجهي ځیني ترافیکي اشارې د کاره ولوېږي او تاسي پر برابر شی، نو تاسو ته لازمه ده چي د رارسیدو سره سم موټر ودروئ او بیا په احتیاط تر هغه ځای تیر شی، خو کچیري په سیمه کي کوم ترافیک او یا بل مسوول کس وي د هغوی لارښود تعقیب کړئ.

**د سړک د مشخصو برخو یا Lane اشاري:** دا هغه نښي او اشاري دي چي تاسو ته هدایت کوي چي تاسو باید د سړک په کومه برخه یا اړخ (لین) باندي موټر وچلوی چي عموماً پر سړک باندي د ساختماني کار له وجهي ایښودل کیږي. ددې نښو او اشارو تعقیب ستاسو لپاره حتمي دی.



**سور ایکس:** د سړک په کومه برخه یا Lane باندي چي دا نښه لګول شوي وي تاسو باید په هغه برخه یا Lane کښي د موټر چلولو څخه ډډه وکړئ. ځکه دا پدې مانا ده چي د سړک یاده برخه یا تر کار لاندي ده او یا هم د کوم بل څه له وجهي بنده ده.



**ژړ ایکس او یا نیم کښته ویکتور:** دا نښې پدې مانا دي چي تاسي باید څومره ژر او خوندي ډول کولای شی ددې اشارو اړونده د سړک د برخي ووځئ یا Change the Lane وکړئ.



**سرکښته زرغون ویکتور:** دا نښه ښيي چي تاسي کولای شی چی د سړک اړونده حصه کي موټر وچلوی.



**کیڼ یا چپه لاس ته د تېریدو ویکتور:** دا ویکتور یا ویکتورونه پدې مانا دي چي تاسي کولای شی چي د سړک اړونده حصه یا برخه یا Lane د کیڼ لاس ته د ګرځیدو په موخه وکاروئ. دا نښي عموماً پر یو اړخیزه او یا هم دوه اړخیزه سړکونو تر سترګو کیږي.

## ترافیکي نښې

ترافیکي نښي او شکلونه اړین مالومات او لارښووني لري، په بعضي حالاتو کښي لکه ګکړه هوا چي لید یا د سترګو دید بشپړه کار نه کوي، تاسي کولای شی چي د ترافیکي نښو او شکلونو څخه کار واخلی. مثلاُ کله چي تاسو ګکړه هوا کښي موټر چلوی تر ډېره بریده پر لوحو لیکل شوی لیک نه ویل کیږي لکه څنګه چي د لوحي رنګ توجه را جذبوي.

**د ترافیکي نښو رنګونه**: د ترافیکي نښو رنګونه هم خپل ځانته پوره مانا او پیغام لري چي باید ورباندي پوه او خبر واوسئ.

د سره او سپین رنګونو یوځای کاریدل د دریدو یا Stop، حق اولیت یا Yield، مه یا Do not، او نه یا No پیغام ورکوي. د مثال په ډول: د دریدو نښه، د حق اولیت نښه، د مه داخلیږئ نښه، د غلطي لاري نښه، د مه ګرځیدو یا تاویدو نښه او یا هم د تم ځای منع کیدو نښي يې ټول مثالونه یادولای شوو.

دتور او سپین رنګونو یوځای کاریدل د قانوني او یا هم تنظمیه پیغامونو لپاره پکاریږي، د مثال په ډول د سرعت حد، مه تیریږه، او یا هم مه تاویږه ټول هغه لوحي یا نښي دي چي  تنظمیه پیغامونه رسوي.

د ژړ او تور رنګونو یوځای کاریدل د خبرتیا یا Warning په موخه کاریږي. د مثال په ډول، مخ ته کاږي یا کږ دی نښه، مخ ته دریدل دي نښه، یا مخ ته سړک لوند او د ښوویدو امکان شته نښه. خو تېز ژړ یا زرغون چي د تور رنګ سره کار شوی وي د ښوونځی یا پیاده رو خبر ورکوي.

زرغون او سپین، شین او سپین، بُور او سپین رنګونه تل د اړینو مالوماتو د رسولو په موخه کاریږي. د مثال په ډول، زرغون رنګ عموماً د راتلونکي منزل په اړه معلومات وړاندي کوي، شین رنګ بیا د لاري اوږدو کي چي کوم د اړتیا وړ شیان یا خدمات وي لکه د تیلو پمپ ستیشن په اړه کاریږي، او بُور یا Brown رنګ بیا د تاریخي ځایونو او مالوماتو لپاره په کاریږي.

د نارنجي او تور او ګلابي او تور رنګونو یوځای کاریدل د سړک جوړوني او ټکرونو یا پیښو په اړه معلومات وړاندي کوي. دا رنګونه تر ډیره بریده د لنډ مهال یا د هم هغه پیښي اړونده وخت پوري محدود وي.


## د نښو شکلونه



**د دریدلو نښه**: دا اته اړخیزه شکل تل د دریدلو مانا لري. کله چي تاسي دې علامې یا نښي ته راورسیږي نو باید په بشپړه ډول موټر ودروئ، شاوخوا وګورئ او چي کله سړک خالي وو بیا موټر ته حرکت ورکړئ. کله کله پر څینو څلور لارو تاسو شاید د دریدلو د لوحي یا نښي لاندي All Way or 4 Way لیکل هم ووینی. هغه پدې مانا دی چي څلور لاري ته رارسیدونکي ټول موټران باید توقف وکړي او د کیڼ لاس موټر وه ښي لاس موټر ته حق اولیت ورکړي.




**مثلث شکله نښه**: کله چي تاسي دې نښي سره برابر شی نو باید موټر موکرار کړئ او سړک باندي تیریدونکي موټرانو، بایسکلانو، او یا هم پیاده کسانو ته د تیریدو حق او وخت ورکړئ او بیا وروسته خپله حرکت وکړئ.



**مستطیل یا مربع مستطیل شکله نښه**: دا دواړي نښي چي یوه يې ولاړه او بله يې ناسته معلومیږي د ترافیکي لاربښود او رهنما په موخه کاریږي.



**الماس ډوله شکل**: دا نښي او شکلونه تل د خطر او یا هم نورو اړینو مالوماتو او خبرتیاو په موخه کاریږي. ددې لوحي په لیدلو سره تاسي باید موټر کرار او دریدلو ته، که اړتیا وه، چمتو واوسئ.



**د ښوونځی سیمه یا د سړک څخه د زده کوونکو د اوښتلو ځای**: دغه پنځه اړخیزه شکل تاسو خبروي چي دا د ښوونځی او یا هم د زده کوونکو د تیریدلو ځای دی او تاسو باید خپل د موټر سرعت او سړک ته پام وکړئ. د پنځه اړخیزه لوحي لاندي ځوړنده ویکتور ټاکل شوي پیاده رو ته اشاره کوي.



**تنظمیه نښه**: تاسو د اړونده قانون څخه خبروي. په یاد ولرئ چي کله مو هم دا ډول نښه ولیدل او منځ کي یې چي هر څه درته لیکلي ول باید تاسو یې مراعت او اطاعت وکړئ، د نه مراعتولو په صورت کي شاید جریمه شئ.




**د سرعت حدود**: دا نښه تاسي د اړونده لاري د اړونده احد اکثر او یا هم قانوني سرعت یا د موټر تیزوالي څخه خبروي. ځیني سړکونه شاید برقي نښي هم ولري، هغه ددې لپاره چي د هوا او ترافیکي حالاتو سره سم بدلیدل ورته اسانه شي. تاسي مکلف یاست چي د سړک پر سر د قانوني سرعت سره سم خپل موټر وچلوئ، د نه مراعت په صورت کي به د پولیسو لخوا جریمه شئ. کله چي باران، واوره او یا هم هوا خرابه وي، تاسي باید موټر په کراره او احتیاط وچلوئ که څه هم تاسي د قانوني سرعت څخه کم هم یاست.







**مه داخلیږه/غلطه لاره**: دا نښي پدې مانا چي تاسي تردې نښو مخته تیر نشئ یعني مخته لار یا بنده ده او یا هم یو اړخیزه/یوطرفه ده نو کچیري تاسي مخته تیر هم شی ډیر امکان یې شته چي تاسو د مرګوني ټکر سره مخ شی.







**یو طرفه یا یو اړخیزه لاره**: دا لکه څنګه چي يې د نامه څخه معلوميږي د يو اړخيزه لاري نښه ده او تاسو ته خبر درکوي چي پردې لاره موټران يوازي يوه طرف يا خوا ته تلی شي.




**د کيڼ یا چپه لاس ته د نه تاويدو يا ګرځيدو نښه**: کچيري دا نښه کوم ځای کي لګيدلي وي نو پدې مانا چي چپه لاس ته ګرځيدل منع او د قانون خلاف دي.



**د ښي يا راسته لاس ته د نه تاويدو يا ګرځيدو نښه**: کچيري دا نښه کوم ځای کي لګيدلي وي نو پدې مانا چي راسته لاس ته ګرځيدل منع او د قانون خلاف دي.



**بيرته مه تاويږئ يا No U-Turn**: کچيري دا نښه کوم ځای کي لګيدلي وي نو پدې مانا چي په هم هغه ټاکل شوي ساحه کي بيرته راګرځيدل منع او د قانون خلاف دي.





**په سره اشاره مه تاويږئ**: کچيري دا نښه کوم ځای کي لګيدلي وي نو پدې مانا چي تاسي پر سره اشاره د ګرځيدو اجازه نه لرئ او بايد د اشارې شنه کيدو ته صبر وکړئ.





**مه تيريږئ**: کچيري دا نښه کوم ځای کي لګيدلي وي نو پدې مانا چي په هم هغه ټاکل شوي ساحه کي د يو بل نه تيريدل منع او د قانون خلاف دي.





**پر زرغونه اشاره باندي ګرځیدل**: کچیري دا نښه کوم ځای کې لګیدلي وي نو پدې مانا چي په هم هغه ټاکل شوي ساحه کي پر شنه یا زرغونه اشاره باندي کیڼ یا چپه لاس ته ګرځیدونکی موټر والا باید نورو موټرونو ته د تیریدو اجازه او حق اولیت ورکړي. دې اشارې ته په رارسیدو باید موټر ودروئ او که سړک خالي وو په احتیاط تر تیر شئ.



**راسته لاس کي روان اوسئ**: دا نښه پدې مانا ده چي چپه لاس کي د تیریدو یا موټر چلیدو امکان نشته، نو تاسي باید همدغه راسته لاس کي همداسي روان واوسئ.




**د ګرځیدو نښي**: دا نښي پدې مانا دي چي تاسي یوازي د ویکتور مطابق اړونده خوا ته د ګرځیدو اجازه لری.




**د غټو موټرانو سړک یا HOV Lane**: د انښي د سړک پر سر د سړک د هغه برخو لپاره دي چي یوازي د غټو موټرانو د چلاو دپاره تعین یا وقف شوي وي. د یادوني وړ ده چي په عادي او کوچني موټرانو کي چي تر موټر چلوونکي یو یا دوه اضافه کسان وي هغوی هم کولای شي چي د سړک پدغه برخه کي موټر وچلوي، او بل دا چي د لوحي په منځ کي ددې سړکونو تقسیم اوقات هم لیکلی شوی. د مثال په ډول د دوشنبې څخه تر جمعې پوري د سهار د شپږو بجو څخه بیا د سهار تر نهو بجو پوري دا سړک یوازي غټو موټران ته وقف شوی او تر هغه وروسته هر څوک کولای شي چي استفاده ور څخه وکړي.




**د معیوبینو تم ځای**: دا نښه چي د تم ځای په کوم ځای کی لګیدلې وي پدې مانا چي نوموړی ځای د معیوبینو لپاره تعین شوی او روغ کسان هلته نشي کولای چي موټر ودروي.

**اخطاريه يا Warning نښې**

دا نښې تل ددې دپاره کارول کيږي چې تاسي ته د ممکنه خطراتو او يا هم پيښو په هکله معلومات درکړي. په ليدلو يې موټر کرار کړئ او د نښو او معلوماتو مطابق عمل وکړی.




**مشورتي نښه**: کله چې د عمومي سړک څخه فرعي سړک ته داخليږی نو دا نښه په مخه درځي. ددې نښې تعقيب حتمي ندی بلکه يو مشورتي بڼه لري.




**د سرعت کمولو خبرتيا**: دا نښه پدې مانا ده چې په راتلونکي څو متری کښې د قانوني سرعت حد بدليږي او تاسو ورته چمتوالی ونيسئ.



**د دريدو نښه**: دا نښه تاسو ته خبر درکوي چې مخته مو د دريدو يا حق اوليت لوحه را روانه ده نو تاسو بايد موټر کرار او دريدو ته چمتوالی ونيسئ.



**د ترافيکي اشارو نښه**: دا نښه تاسي ته خبر درکوي چې د موټر سرعت مو کم کړی او دريدلو ته چمتو شئ ځکه مخته مو د سړک د سر ترافيکي اشارې راتلونکي دي.




**د نه تيريدو سيمه**: دا نښه پدې مانا ده چې ددغه ځای څخه تر نورو موټرانو د نه تيريدو سيمه پيل شوه. نو تاسو بايد ددې نښې تر ليدو وروسته د هغه موټرانو چې ستاسي سره په يوه لين کې روان او ستاسو څخه مخته وي بايد تير نه شئ که څه هم لاره خالي وي.



**د دوو سړکونو د يوځای کيدو نښه**: دا نښه پدې مانا ده چې دلته دوه سړکونه سره يوځای کيږي.



**راسته لین په ختمیدو دی**: دا نښه پدې مانا ده چې راسته لاس پر ختمیدو دی او تاسو باید د کیڼ بغل لین ته د اوښتلو چمتوالی ونیسئ. د کیڼ لاس موټر چلوونکي باید د راسته لاس موټر چلوونکو ته د ور ګډېدو مخ ورکړي.



**د ویشل شوی سړک پیل**: پدې مانا چې مخته لوی سړک پر دوو برخو ویشل شوی دی نو تاسو باید په راسته اړخ کې موټر چلولو ته ادامه ورکړی. دا نښه د ویشل شوي سړک پیل ښیې.



**د ویشل شوي سړک پای**: پدې مانا چې ویشل شوي سړک پای ته ورسیدی او تاسو په عادي ډول موټر وچلوئ.



**ښووی سړک**: کله چې سړک لوند وي، د موټر سرعت مو کم کړئ، یو دم بریک مه نیسئ، او د خپل موټر او مخته موټر ترمنځ مو واټن زیات کړئ ترڅو د سړک لوندوالی درته زیان ونه رسوي.




**د غټو موټرانو د اندازې نښه**: پدې مانا چې کچیري ستاسو د موټر اندازه یا جګوالی تر هغه اندازې چې په لوحه کې لیکل شوی ډیر یا زیات وي نو مه تر تیریږي ځکه د موټر چت مو لګیږي او ټکر رامنځ ته کیږي.



**مخ شوه غونډی**: پدې مانا چې مخته مخ شوه غونډی ده. تاسو باید خپل د موټر بریک وګوری چې کومه ستونزه ونه لري.



**دهوسۍ دتیریدلو سیمه**: دا لوحه ښیې چې دلته د هوسۍ د تیریدو یا پر سړک د اوښتو امکان شته، نو تاسو باید موټر کرار او احتیاط وکړئ.



**پیاده رو**: پدې مانا چې دلته ماشومان او پیاده خلک تر سړک اوړي نو تاسو باید سرعت کم او د احتیاط څخه کار واخلئ.



**د بایسکلونو د تیریدو ځای**: پدې مانا چې دلته د موټرانو ترڅنګ بایسکلان هم تیریږي. موټر کرار او د احتیاط څخه کار واخلئ.



**د زده کوونکو د تیریدو ځای**: پدې مانا چې دلته ماشومان او پیاده خلک تر سړک اوړي نو تاسو باید سرعت کم او د احتیاط څخه کار واخلئ.




**د پرې پرې سړک نښه**: د ځینو پلونو او سړکونو منځونه پرې پرې غوندي وي چې کله نا کله د موټرسایکل چلوونکو لپاره نا ارامه تامیدلای شي، نو ځکه مهمه ده چې موټرسایکل چلوونکي د احتیاط څخه کار واخلي.




**د سړک د منځ درځونه**: دا پدې مانا ده چې د سړک په منځ کي درځونه یا چاکونه شته چې کیدای شي د موټرسایکل او یا هم موټر چلاو ته وړوکی ګواښ جوړ کړي. نو لازمه ده چې تاسي د احتیاط څخه کار واخلی.



**څلورلاري یا چهار راهي**: دا نښه یا لوحه پدې مانا ده چې راتلونکي څو میترې کي څلور لاري په مخه درځي، نو چې پام او فکر مو وي.



**د Y شکل څلورلاري**: پدې مانا چې یوازي راسته او یا هم چپه لاس ته د ګرځیدو لار لرئ، ځکه مخامخ سیده لاره نشته.



**د T شکل څلورلاري**: دا نښه تاسي ته ښیې چې په کومه لار چي تاسي روان یاست ژر پای ته رسیدونکي ده نو تاسي باید راسته یا چپه لاس ته وګرځئ.



** څرخک ډوله څلورلاري**: دا نښه پدې مانا چي مخته مو څلوري راتلونکي ده او څلور طرفونو ته خلاصه ده نو تاسو ته لازمه ده چي راسته لاس او یا هم هغوی چي تر تاسو مخکي دې څرخک ته داخل شوي وي حق اولیت د تیریدو ورکړئ.



**راسته خوا ته ګرځیدونکی سړک**: دا نښه پدې مانا ده چي سړک راسته لاس ته ګرځي او د چپه لاس څخه هم یو بل سړک ورسره ګډیږي، مقصد چي فکر مو وي.



**راسته خوا ته تاویدونکی سړک**: دا نښه پدې مانا ده چي سړک راسته یا ښي خوا ته تاویږي نو تاسي ته لازمه ده چي موټر کرار کړی او د احتیاط څخه کار واخلی.



**راسته او چپه خوا ته تاویدونکی سړک**: دا نښه پدې مانا ده چي سړک لومړی راسته او بیا چپې خوا ته تاویږي نو تاسي ته لازمه ده چي موټر کرار کړی او د احتیاط څخه کار واخلی.



لږ کږه لاره: دا نښه پدې مانا ده چي سړک لومړی راسته او بیا چپې خوا ته تاویږي نو تاسي ته لازمه ده چي موټر کرار کړی او د احتیاط څخه کار واخلی.




**کږه لاره او لازم سرعت**: دا نښه پدې مانا ده چي سړک راسته خوا ته تاویږي او ستاسي د خوندیتوب په خاطر درته د سرعت حد هم ښودل شوی دی. نو موټر مو د ښودل شوي سرعت مطابق کرار کړی او راسته خوا ته وګرځی.



**کږه وږ لاره**: پدې مانا چي مخامخ سړک کوږ ووږ دی او د موټر سرعت مو کنترول کړئ او احتیاط وکړئ.




**د ریل ګاډي پټلی**: پدې مانا چې دلته د ریل ګاډي پټلۍ تیرې شوي، د هغه موټرانو چې سینې یې کښته دي شاید د پټلیو سره ولګیږي نو د تیریدو په مهال دحتیاط وکړئ.




**د ریل ګاډي د تیریدو نښه**: دا نښه د ریل ګاډي د تیریدو د ځای څخه لږ څه مخکې ایښودل شوي ددې دپاره چې تاسو ته د چمتوالی په موخه کافي وخت درکړل شوی وي.





**د ریل ګاډي د تیریدو لاره**: دا نښه تاسي خبروي چې دلته ریل ګاډی تیریږي نو تاسو باید شاوخوا وګوری او د ریل ګاډی بږغ ته غوږ شئ، که مو واوریدی نو سرعت مو کم کړی او دریدو ته چمتو واوسئ.




**د ریل ګاډي د تیریدو نښه او اشارې**: دا نښه او اشاې تل د ریل ګاډی د تیریدو پر لار ایښودل کیږي نو کچیري ستاسي په رارسیدو سره دا اشاره ځلیدل یا لګیدل نو موټر مو ودروئ او ترڅو چې ریل ګاډی تیره شوي نه وي حرکت ونه کړئ.



**دتیریدو لار،ځلیدونکي اشارې او دروازه**: ځیني ځایونو کښي شاید د اشارو او لوحو ترڅنګ د ریل ګاډی دپاره ګیټ یا دروازه هم کارول شوي وي. کچیري اشاري لګیدلې یا ځلیدلې او دا ګیټ راکښته شوی وو نو تاسو مکلف یاست چې موټر ودروئ او د ګیټ د خلاصیدو چې کله ریل ګاډه تیره شوه حرکت وکړی.




**د x او RR نښې**: دا نښې تل د ریل ګاډی د پټلۍ سره نژدې د سړک پر سر کښل یا رسم شوي وي، ددې دپاره چې کله تاسو پټلۍ ته رسیږي نو باید د ریل ګاډي د تیریدو په مهال تر همدغو نښو تیر نشئ ځکه دا تقریبا لکه ستاسو د موټر د دریدو تم ځای غوندې دی. نو ددې دپاره چې ستاسو د موټر او د ریل ګاډي ترمنځ کافي فاصله موجوده وي دغه نښې درته رسم شوي دي.

**نوټ**: د ښوونځی بس باید تل ریل پټلۍ ته ودریږي که څه هم اشاري بندي وي او ریل ګاډی نه وي.




**دوهم نوټ**: کچیرې تاسو پر ریل پټلۍ باندې کوم خطرناک او زیان رسوونکي شی ولیدی نو د مهربانۍ له مخې دغه شمیرې ته زنګ ووهی او مسوولین باندې خبر کړی.




**دریم نوټ**: کچیرې احیاناً تاسو او ریل ګاډي سره مخامخ شی نو سم دستي د موټر څخه ووځئ او د ریل پټلۍ څخه لیرې وځغلی (لکه دغه انځور کې چې درته ښودل شوي)، کنې نه به تاسې یاست او به مو موټر پاته وي.


**تر کار لاندې ساحه**: چیرې چې کار روان وي تاسې باید قانوني سرعت مراعت کړی او د تلیفون او نورو الیکترونیکي شیانو د استعمال څخه ډډه وکړئ. کچیرې تاسو تر قانوني سرعت اضافه چلاو کې ونیول شی نو پنځه سوه (۵۰۰) ډالره به جریمه شی او که د موټر چلولو پرمهال د تلیفون پر استعمال ونیول شی نو دوه نیم سوه (۲۵۰) ډالره به جریمه شی. په یاد ولری چې نارنجي نښه د سړک پر سر د روان کار په مانا ده.





**خامه لار، پنډل، یا غیرمنظم سړک**: دا نښې پدې مانا دي چې سړک یا د پنډل (جمپ)، د ساختماني جغل، او یا هم غیرمنظموالي له وجهې پوره ځغاستې ته جوړ ندی او تاسو ورباندې اګاه واوسئ.





**د سړک جوړوني ساحه**: دا ترافیکي نښه ددې دپاره د سړک پر سر کارول کیږي ترڅو تاسو ته مخکې له مخکې خبر درکړي چې مخته سړک باندې کار روان دی او تاسو باید د موټر سرعت کم کړی.



**د ځلیدونکي ویکتور لوحه**: دا نښې او لوحې ددې دپاره د سړک پر سر کارول کیږي چې د کار ساحه کې د موټر چلوونکو ترمنځ نظم مراعت کړي او موټر چلوونکي د سړک تړاکل شوي اړخ ته رهنمايي کړي ځکه کیدای شي د سړک یوه برخه یا اړخ تر کار لاندي وي. نو تاسو باید د ویکتور علامه تعقیب کړئ.




**بیرغ لړونکي کارمندان**: دا کارمندان عموما ژړ، نارنجي او یا هم زرغون نارنجي رنګه کوټونه آغوندي او د سړک پر سر د بیرغ سره ددې دپاره ولاړ وي چې تاسو د موټر چلولو پرمهال سمي لارې ته رهنمايي کړي ځکه یا به پر سړک کار روان وي او یا به غواړي چې خپل ساختماني ماشین آلاتو ته لاره پیدا کړي. نو ددوی لارښوونو ته متوجه او تعقیب يې کړئ.



**د ترافیکي نظم آلې**: دا او دې ته ورته تړولي آلي چې د سړک پر سر کله نا کله تاسو وینئ د ترافیکي نظم ساتلو او ستاسو د خوندیتوب په موخه کارول کیږي. کله چې دداسي شیانو سره مخ کیږئ پام مو وي چې په احتیاط موټر وچلوئ، داسي نشي چې موټر مو ورسره ټکر کړی وي.

**مسیج بوردونه**: کله نا کله که مو فکر کړی وي د سړک په څنډو کې غټې غټې لوحې لګول شوي وي او بیلابیل پیغامونه یا د هوا، یا د سړک، او یا هم نورو اړونده مسایلو په اړه وربانديې لیکل شوي وي. دا بوردونه یا لوحې د مهمو پیغامونو د رسولو دپاره دي او تاسو باید ورته متوجه شئ. که ستاسو د مسیر او لارې په اړه وربانديې پیغام وي تعقیب يې کړئ کنې همداسي خپل چلاو ته ادامه ورکړی. دا لاندې ویب سایټ او شمیره تاسو د سړک او اړونده موضوعاتو په اړه مهم معلومات درکوي.

www.virginiadot.org or www.511virginia.org or call 511




**لیکي لیکي نښې**: دا تور او نارنجي رنګه نښه د کار تر ځای مخکې ایښودل کیږي او کله چې تاسي ورسره مخامخ شی نو په احتیاط تر تیر شئ چې دا نښو او ستاسو موټر کوم زیان ونه رسیږي.



**کرار یا کم سرعته موټران**: کوم موټران لکه غټې لارۍ یا نور د کار او بار موټران چې پر عمومي سړکانو تګ راتګ کوي باید د همدغې ترافیکي علامې څخه استفاده وکړي یعنې خپل پر موټر یې ولګوي ترڅو نورو موټروانانو ته معلومات وي چې تر تیر شي ځکه دا علامه هغه اړینه ده چې ستاسو موټر په ۲۵ یا کم سرعت کې روان وي.

**د سړک د سر نښې**: د سړک پر مخ چې کومې نښې دي دا د موټر چلوونکو د لارښود او نظم لپاره دي. دا نښې کیدای شي سور، ژړ، او یا هم سپین رنګ لرونکي وي او هر یو یې ځانته مانا لري. لاندې تشریح شوي:

**سور رنګ نښه**: دا نښه تر ډیره بریده نه کارول کیږي خو ځینې ټولني یې د تم ځای د بندولو په موخه کاروي.

**ځلانده سور رنګ**: دا نښه چې کله د کوم سړک پر سر وهل شوې وي پدې مانا ده چې باید هغه سړک ته ور داخل نشئ ځکه دا د غلطې لارې د تفکیک په موخه وهل شوی رنګ دی.

**د سړک د منځ دوه ژړ خطونه**: د سړک د منځ دا دوه سیده ژړ خطونه د دوو دوه طرفه سړک د جلا کولو دپاره وهل شوي دي. پدې مانا چې ددې سړک څخه د دواړو خواوو کار اخیستل کیږي.



**مات مات ژړ مرکزي خط**: دا خط دا مانا ورکوي چې کچیري ستاسې مخامخ لاره خلاصه وي نو تاسې چپه لاسه ته تر موټر تیریدلای شی.



**د سړک د منځ یو مات او یو جوړ ژړ خطونه**: کوم موټر چې د مات خط خوا کې وي هغه کولای شي چې خپل د بغل تر موټر تیر شي اما کوم موټر چې د جوړ خط په خوا کې وي هغه نشي کولای چې خپل د بغل والا موټر څخه تیر شي خو په استثنایې حالت لکه د بایسکل، موټرسایکل او یا هم پیاده کس څخه تیریدلای شي. دا دوه دواړه په صورت کې د تیریدو اجازه لري چې لاره خالي وي.



**د سړک په منځ کې دوه سیده ژړ خطونه**: دا دوه ژړ سیده خطونه یا لیکې د سړک په منځ کښې ددې دپاره کښل شوي دي چې دوه مخامخ سړکونه سره جلا کړي. هیڅ موټر چلوونکی نشي کولای چې تر هغه بل تیر شي اما که څوک چپه لاس ته ګرځي یا تاویږي، تر بایسکل والا، پیاده او سکوټر تیریږي، ستونزه نشته.



**مات مات سپین خط**: د سړک په منځ کې دا ډول مات مات سپین خط یو سړک جلا کوي. تاسي کولای شی چي یو تر بل تیر شي اما چي احتیاط وکړی.

**پرې پرې سپیني کرښي**: دا ډول کرښي عموما پر څلور لارو او نښلیدونکو لارو باندي وهل شوي وي ددې دپاره چي سړک پر بیلابیلو برخو وویشي. دا کرښي کله نا کله د راسته لاس او چپه لاس د ګرځیدو په ځای کي هم کارول شوي وي ترڅو سړکونه سره جلا او موټر چلوونکي ټاکل شوي خواته رهنمايي کړي.

د ویرجنیا زیاتره دوه طرفه سړکونه مارکونه یا نښي نلري. پدې مانا چي کچیري تاسي پر یو داسي سړک د یوه ورو یا کرار موټرچلوونکي سره مخ شی، بیخاره کولای شی چي موټر تر تیر کړی خو پدې شرط چي لاره به خالي وي او د موټر نه تیریدو لوحه به نه وي لګول شوي.




**سپین سیده خطونه**: دا کرښي پدې مانا دي چي موټران یا باید ښې خوا ته او یا هم کيڼي خوا ته تاو شي، یعني د موټرانو د ګرځیدو دپاره یې سړکونه سره جلا کړي دي خو ددي خطونو په منځ د یوه لین څخه بل لین ته اوښتل منع دي.

**سپین سیده یا کاږه ویکتورونه**: دا سپین رنګه سیده یا کاږه ویکتورونه ددې دپاره د سړک پر سر وهل شوي ترڅو موټر چلوونکي راست او چپه خواوو ته د ګرځیدو په موخه رهنمايي کړي. کله سپین کوږ ویکتور او Only یوه لین کي یوځای سره رسم شوي وي تاسي باید ویکتور تعقیب کړی او هم هغې خوا ته وګرځئ. اما که کوږ او سیده ویکتور یوځای یوه لین کي سره رسم شوي وي تاسي کولای شی چي یا سیده ولاړ شی او یا هم د ویکتور په طرف وګرځئ، په دواړو حالاتو کي که لاره خلاصه وي تاسي تلی شی، ستونزه نشته.



**دوه سپین  سیده خطونه**: دا خطونه عموما د دوو سړکانو د جلا کیدو په موخه کارول کیږي. تاسو یوازي هغه ددې خطونو څخه د تیریدو اجازه لری چي اړتیا مو وي.



**د حق اولیت خطونه**: دا کرښې یا خطونه د سړک پر مخ رسم شوي دي. دا ددې دپاره دي تاسو ته خبر درکړي چې دا ساحه کې حق اولیت ته پام وکړی او کوم موټر چې ستاسو څخه مخکې ساحې ته داخل شوی وي، اجازه ورکړی چې تیر شي او بیا تاسو ور پسې تیر شئ.

**دري لین لرونکی دوه اړخیزه سړک**: دا سړک عموما د دوه اړخیزه تګ را تګ دپاره کاریږي او په منځ کې یې لکه دا لاندي انځور کې چې مالومیږي یو لین دی چې یوازي چپه لاس ته د تاویدو په صورت کې ور څخه استفاده کیدلای شي.

کچیري ددا منځ لین دواړه خطونه مات مات وه نو ددواړو اړخونو موټړچلونکي کولای شي چې د منځني لین څخه د یو بل څخه د تیریدو په موخه کار واخلي.



**دري لین لرونکی دوه اړخیزه سړک**: دا سړک عموما د دوه اړخیزه تګ را تګ دپاره کاریږي او په منځ کې یې لکه دا انځور کې چې مالومیږي یو لین دی چې یوازي چپه لاس ته د تاویدو په صورت کې ور څخه استفاده کیدلای شي. خو موټړچلوونکی تر ۱۵۰ متره اضافه پدې لین کې د چلاو اجازه نه لري، باید څومره ژر کولای شي چپه لاس ته وګرځي.




**ګډه لار**: د سړک پر مخ چې کله د بایسکل او دوه ډبل ویکتورونو رسم لیکل شوی وي پدې مانا دی چې دا لار یا سړک د موټر او بایسکل په ګډه دی او دواړه کولای شي چې په عیني وخت کې ور څخه استفاده وکړي.



**د بایسکل دپاره ټاکل شوي سړک**: پر سړک باندي د بایسکل او سیده ویکتور رسم دا مانا لري چې دا سړک یوازي د بایسکل چلولو دپاره مشخص شوی دی. موټر چلوونکي باید د بایسکل چلولو پر سړک ولاړ نشي بغیره عاجل اړتیا څخه لکه راسته یا چپه لاس ته ګرځیدل.






**د غټو موټرانو لار**: دا نښه او شکل چې د ځنګ په انځور کې ښودل شوی عموما د سړک د غاړې د لین په منځ کې رسم شوي وي. د سړک دا مشخصه برخه یا لین د غټو موټرانو، بسانو، او یا هم هغه موټرچلوونکو دپاره ده چې په موټر کې تر یوه زیات سپاریان ورسره وي. ددې لین پر سر عموما یوه لوحه لګیدلې وي چې په هغه کې ددې لین یا سړک مهال ویش او نور شرایط لیکل شوي وي.



**د سړک مالیه یا** Toll Plaza: دا د سړک د مالیې ټولولو غرفې دي چې د سړک پر سر ایښودل شویدي. په ویرجنیا ایالت کې ځینې سړکان مالیه غواړې ترڅو تر تیر شی. تاسي کولای شی چې دا مالیه یا په نقدي شکل او یا هم د EZ-Pass د لارې په هم هغه غرفو کې تحویل کړی. کچیرې د EZ-Pass څخه کار واخلی، ارزانه به درته تمام شي.

**د سړک پر غاړه موټر درول**: کله کله په ځینې ښارونو او منطقو کې د سړک غاړې یا څنډې په ژړ، سپین او یا هم سره رنګ وهل شوي وي. هغه ددې دپاره چې موټرچلوونکو ته وښیې چې دلته موټر درولو اجازه شته او که نه. ددې رنګونو ماناوې په لاندې ډول دي:

| |
|---|
| **سپین رنګ**: تاسو یوازې د سپاریانو یا مسافرو د کښته کولو او پورته کولو دپاره دلته موټر درولای شی، اضافه نه. |
| **ژړ رنګ**: تاسو یوازې د بار یا لوډ د کښته کولو او پورته کولو دپاره دلته موټر ودرولای شی، اضافه نه. |
| سور رنګ: دلته موټر درول منع دي. |



## دریمه برخه

### د خوندي موټرچلولو لارښود

په دغه برخه کې به تاسي دا لاندي موضوعاتو زده کړی:

- پر اشتیرینګ باندي د لاس موقعیت
- د سرعت حد
- درول
- حق اولیت ورکول
- څرخک
- د لینونو تبدیلول
- تر حد زیات تصحیح
- تاویدل یا ګرځیدل
- بیرته را تاویدل یا U-turns
- خپل فاصله مراعاتول
- لټون
- د موټروان کمزوري ځایونه
- د سړک شریکول
- شا ته تلل یا ریورس
- موټر درول
- لیدنه
- څراغونه یا بتۍ
- دخطر حالات
- دخطرناکه موټرچلولو نښي یا عادتونه
- ترافیکی حادثي
- دهوسۍ د تیریدو ځای او اړونده خطر
- ترافیکي اشاري یا سټاپونه

**هر کله** چي تاسي موټرچلولو ته کښېنی، تاسي ته مسوولیت در د غاړي کیږي. دا مسوولیت ستاسو، ستاسو سره په موټر کي ناست کسانو، سړک باندي روان نورو موټرانو او پیاده انسانو او حتا حیوانانو هم دی. تاسو باید په ډیر احتیاط او زیرکی موټر وچلوی، نه یوازي د ځان ساتلو پخاطر بلکي د تولو هغه انسانانو او حیوانانو چي شاید ستاسو د بې غوری له وجهي زیانمن شي. نو مهمه ده چي د ویرجنیا ترافیکي قوانین او طرزالعمل په بشپړه ډول عملي کړی!




**د موټر اشترینګ باید څنګه ونیول شي؟**

مستقیم او آرم کښېنی. لکه څنګه چي انځور کي درته ښودل شوي همدغسي مو دواړه لاسونه (راسته پر څلور او چپه پر ۸) باندي کښیږدی. تل د موټر اشترینګ په دواړو لاسونو نیسی.

**د سرعت حد**: د سرعت حد یا د موټر تیزوالي حد هغه ته وایي چي د سړک په بغل کي پر لوحي باندي لیکل شوی وي او دا حد د ویرجنیا د ترافیکو او مسوولینو لخوا ټاکل شوی وي. تاسو باید د سرعت د حد مطابق موټر وچلوی، څکه تردې حد اضافه چلاو باندي بندیز دی او تاسو د پولیسو لخوا جریمه کیدای شی. اما کچیري مو غوښتل د قانوني سرعت څخه لږ کم چلاو کولای شی خو اضافه نه. په ویرجنیا کښې که کوم کس تر تر قانوني سرعت ۲۰ اضافه موټر وچلوي، په بې باکۍ یا بې غورۍ او یا هم درنې جریمې باندي به محکوم شي. پداسي حالت کي به یې د لنډ مهال دپاره لایسنس واخیستل، نقدي جریمه، او یا هم که قاضي لازم وبلل محبس ته واستول شي. د ښوونځی اړونده سیمه کي د سرعت قانوني حد ۲۵ دی، په رهایشي او بازاري سیمه کي بیا ۳۵ دی، او ۵۵ د نورو غټو سړکانو دپاره دی.

**دریدل**

تاسي باید په لاندي حالاتو کي خپل موټر ودروئ:

- چیري چي د Stop نښه وی، اشارې سرې وي، او یا هم سرې ځلیږي.
- کله چي تاسي کوڅې ته ننوځی، یا پیاده رو باندي تیریږی، او یا هم کوم تعمیر یا تم ځای ته ننوځی.
- کله چي د ریل ګاډی د تیریدو وخت وي او اشارې یې هم لګیږي.
- کله چي د بیرغ لرونکو کارمندانو سره مخ شی او هغوی درته د دریدو اشاره درکړي.
- هغه وخت چي خلک له پیاده رو څخه تیریږي یا سړک باندي اوړي.
- کله چي د پولیسو لخوا درته د دریدو امر وشي، او که تاسو ونه دریږي او پولیس ستاسو په تعقیبې حالت کي ووژل شوو، مسوولیت به یې پرتاسو وي.
- په کوم حادثه یا پیښه کي چي تاسي پکښې شامل یاست.

کله چي تاسو د دریدلو نښي ته راورسیږي او ستاسو مخ ته که کوم موټر تر نښي تیر هم شي تاسو باید نښي ته په رارسیدو ودریږئ او بیا حرکت وکړی.


**د ښوونځی د بس لپاره دریدل**



لکه څنګه چي انځور کي مالومیږي د سره رنګ موټران ټول پر خپلو ځایونو ولاړ پاته دي ځکه ماشومان د بس څخه راکښته کیږي.



کله چي د ښوونځی بس سرې اشارې ولګولې او د Stop نښه یې د بغله راووتل، پدې پوه شی چي بس د دریدو ته ځان جوړوي. نو تاسو خپل موټرونه ځای پر ځای ودروئ تر هغه وخته چي ماشومان د بس څخه راکښته شي او بس بیرته حرکت وکړي. کچیري بس د ډکولو یا خالي کولو په حالت کي هم وي تاسو باید ودریږئ. خو کچیري بس ستاسو پر مخامخ سړک په هغه بل لاس باندي وي او د دواړو اړخونو ترمنځ ګلدان یا بل جلا کوونکی شي وي بیا تاسو همداسي په احتیاط تر بس تیر شی، ستونزه نشته.



## د دریدلو واټن:

د موټر درولو دري عمده فکتورونه دي چي په لاندي ډول تشریح شویدي:

1 . د درکولو وخت: هغه وخت چي تاسو یو خطر درک کوی.
2 . دعکس العمل واټن: هغه واټن چي ستاسو د درک او بریک ترمنځ موجود دی.
3 . د بریک نیولو واټن: هغه واټن چي د بریک نیولو په جریان کي رامنځته کیږي.

د درک کولو وخت، د عکس العمل واټن او د بریک نیولو واټن ټول هغه څه دي چي د هوا، ستاسو د سترګو د دید، فزیکي او دماغي حالت څخه متاثره دي. د موټر تیز رفتار، د موټر پرزي او ټایرونه، او د سړک حالت هم پر بریک نیولو پوره اغیز لري. مثلا، لوند سړک کیدای شي چي ستاسي د بریک نیولو واټن دوه چنده کړي. پر وچ او هوار سړک باندي د دریدلو اوسط واټن لکه څنګه چي لاندي انځور کي ښودل شوی دی.



## انټیلاک بریکونه:

کچیرې ستاسې موټر انټیلاک بریکونه لري، باید تر استعمال مخکې ښه ځان په پوه کړی. مخکې له دې چې سړک ته راووځی، خپل د موټر بریکونه مو سم چیک کړی.

## د ښې لاس څخه تیریدل یا حق اولیت ورکول او یا هم Yield:

کچیرې کوم ځای کې د تیریدو امکان نه وي نو هلته Yield د دریدو په مانا هم دی.

ددې ترافیکې نښې د استعمال یو څو مثالونه:

- کله چې څو موټران په مختلف وخت کې یوه څلور لارې ته راورسیږي، نو کوم موټر چې لومړی رسیدلی وي، هم هغه باید لومړی تیر شي.
- کله چې څو موټران د مختلفو لارو څخه په یوه وخت کې یوه څلور لارې ته راورسیږي او هلته د دریدو یا یلډ کومه نښه نه وي، نو د چپه لاس موټروالا باید راسته لاس موټروالا ته د تګ اجازه ورکړي.
- کچیرې د یوې څلور لارې ټولې ترافیکې اشارې کار پرېږدې، نو څلورلارې ته رسیدلې موټران باید ټول ودریږي او لومړی د تیریدو حق او اجازه د راسته لاس موټروالا ته ورکړي او بیا دوی همداسې په نوبت ورپسې ولاړ شي.
- که کوم موټر والا د فرعې لارې څخه عمومې لارې ته داخلیږي، نو لومړی باید منتظر شي چې فرعې لاره خالې شي، کچیرې موټران مخکې وي.
- کله چې تاسو څلورلارې او یا هم څرخک لارې ته رسیږي او هلته نور موټران ترتاسو مخکې رسیدلې وي، نو تاسو هغوی ته د تیریدو اجازه ورکړی.
- کله چې تاسو د کور د مخې څخه او یا هم کوم بل شخصې سړک څخه راوځی نو باید عمومې او فرعې سړکانو ته مو پام وي او سړکانو باندې روان موټرانو ته د تیریدو وخت او اجازه ورکړی.
- تاسو باید تل پیاده او بایسکل چلوونکو ته د تیریدو وخت او اجازه ورکړی، هغه که تاسو ته د دریدو نښه وي او که نه وي.
- تاسو باید تل د جنازې کاروان یا موټرو ته د تیریدو وخت او اجازه ورکړی. د جنازې د کاروان مخکې موټر باید ټول اړونده ترافیکې اصول او قوانین مراعت کړې.
- همدا شان نظامې کاروان او موټرو ته هم باید د تیریدو وخت او اجازه ورکړئ.


*کومو موټرانو ته باید لاره ورکړو*؟:

موټرچلوونکو ته پکار ده چې د لارې په اوږدو کښې هغه موټرانو ته ځانګړې پاملرنه وکړي چې ایمرجنسي اشارې پې لګولې وي. ایمرجنسي اشارې یا بتۍ ستاسې د ملوماتو دپاره هغه اشارو یا بتیو ته وایې چې د موټرانو په مخ او شاه کې نصب دي. ځینې منطقو کې ورته فول و ډیم اشارې هم وایې.

## ځای پر ځای ولاړ موټران:

- کله چې د لاري په اوږدو کې یوه ولاړ یا روان غټ موټر او یا هم عادي موټر چې دواړي اشاري یې فول و ډیم لګولي وي رسیږی نو هڅه وکړی چې د موټر څخه لرې لیري او کم سرعت کې تیر شی. د تیزوالي او ډیر نژدي تیریدو په صورت کې شاید د پولیسو لخوا جریمه شی.
- کله چې د لاري په اوږدو کې د کچري ټولولو موټر یا ټرک سره برابر شی، نو که عمومي لاري څلور لینه درلودل، تاسو په احتیاط سره د ټرک څخه یو لیري لین ته ځان واړوی البته که یې امکان وو او که نه بیا مو سرعت کم کړی او تر ټرک تیر شئ.
- کچیري پر پوست رسوونکي یا لیک وړونکي موټر باندي پیښ شولاست، نو سرعت مو کم کړی او په احتیاط تر تیر شئ.
- کله چې اطفایه د کار په حالت کې وي، هغه وخت او ځای کې تاسو باید د اطفایې څخه لرې تر لږه ۵۰۰ فوټه واټن کې موټر ودروئ.
- هیڅکله هم ایمرجنسي موټرانو ته لکه امبولانس، اطفایه او یا هم نور چې دواړي اشاري یې لګولي وي تر ۵۰۰ فوټه اضافه مه ور نژدي کیږی.
- کچیري تاسو مخکې روان واست او د پولیسو، اطفایې او یا هم امبولانس موټر ستاسو شاه ته اشاري ایله کړي وي او سایرن اواز یې هم چالانده کړی وو، نو تاسو سمدستي خپل موټر یو بغل ته کړی او دوی ته لاره ورکړی چې تیر شي.
- کچیري تاسو دوه طرفه سړک چې منځ کې یې کوم ګلدان یا بل ممانع نه وو روان واست او د پولیسو، اطفایې او یا هم امبولانس موټر ستاسو مخامخ را روان او دواړي اشاري ایله کړي وي، نو تاسو سمدستي خپل موټر یو بغل ته کړی او دوی ته لاره ورکړی چې تیر شي.

دا پورته لارښووني په کاري سیمو کې د تطبیق وړ ندي.



## څرخک لاره:

دا یو حلقوي یا دایروي څلورلاري ده چې د سړک په مرکز یا منځ کې موقعیت لري. موټران دلته په رارسیدو سره باید دښې/راسته لاس موټرچلوونکو او پیاده کسانو ته د تیریدو اجازه ورکړي. دا څرخک لاري ته ننوتونکي ټول سړکان لکه څنګه چې انځور کې درته ښکاري د څرخک لاري نښه لري، ددې دپاره چې موټرچلوونکي خبر کړي او په احتیاط موټر وچلوي.

کله چې څرخک لاري ته ننوځۍ، د موټر اشاري مو چې هري خوا ته ګرځیدلاست، ایله کړی. مثلاً، که راسته لاس ته ګرځیدلاست، د راسته لاس اشاره مو ولګوی او که چپه لاس ته....د چپه لاس اشاره مو ولګوی. د لا نورو مالوماتو دپاره، دا لاندي ویب سایټ ته ورشی. https://www.virginiadot.org/info/faq-roundabouts.asp

*دا لاندې لارښوونې ستاسو سره په څرخک لارې کې مرسته کولای شي:*

- کله چې تاسو څرخک لارې ته راورسیږئ نو موټر مو کرار کړئ او څلورو خواو ته وګورئ چې ترافیکي نښې مو سمې او ستاسو مطلوبه لارې ته متوجه رهنمايي کړي.
- کله چې تاسو څرخک لارې ته ورسیږئ نو موټر مو کرار کړئ، پیاده، بایسکل والا او هغه موټر چې ستاسو څخه مخکې څرخک لاره کې وي د تیریدو او تلو اجازه ورکړئ. او چې کله لاره خالي شوه، تاسو ادامه ورکړئ.
- کله چې تاسې په څرخک لاره کې یاست په خپله کرښه او لاره کې پاته شئ، تر هغو چې تاسو د څرخک لارې څخه وځئ.
- کله چې په څرخک لاره کې یاست او غواړئ چې ووځئ او یا هم لین تبدیل کړئ نو لومړئ مو د موټر د بغل هنداري او شا او مخ پوره چیک کړئ، او بیا خپل مطلوبه عمل ترسره کړئ.


## لین بدلول:

کله چې تاسو موټر چلوئ او غواړئ چې د یوه لین څخه بل ته واوړئ، یا د یوه سړک څخه بل سړک ته واوړئ او یا هم د فرعي لارې څخه عمومي لارې ته ووځئ نو تاسو مکلف یاست چې خپل د موټر د بغل هندارو، د موټروان مخامخ د شاه کوچنۍ هنداره او خپل دواړه بغلونه سم وګورئ چې نور موټران ستاسو په څنګ کې نژدې نه وي روان. دا څارنه باید ددې وشي چې تاسو د بغل او یا هم د شاه او مخ د موټرانو سره ټکر نه شئ. هر کله چې راسته لاس او یا هم چپه لاس ته اوړئ او راوړئ، نو د موټر د بغل اشارې مو ایله کوئ یا چالاندوئ ترڅو ستاسو سره په بغل او شاه او خوا کې روان نور موټروانان پدې پوه شي تاسو کوم خوا ته ګرځئ.

بله مهمه خبره دا ده چې پر عمومي لاره چې کله سفر کوئ نو پام مو وي چې د راسته لاس لین د هغو موټرانو دپاره دی چې زیاتره وخت کرار رفتار کوي او چپه لاس عموما د تیزو موټرانو او تیریدو په موخه کاریږي. خو دا پدې مانا نه چې تاسې پر چپه لاس لین موټر نه شئ چلولای، بلکه دواړه د ټولو خلکو پر مخ خلاص دي.

## تیریدل

*هرکله چي تاسو تر بل موټر تیریږی:*




- خپل مخکي، شاه، او بغلونه په بشپړه توګه چیک کړی او بیا مو د اړونده خوا اشاره ایله کړی او تر تیر شی.
- د موټر سرعت مو باید تر قانوني سرعت زیات نه وي ځکه د قانوني سرعت حد ماتول په هر حالت کي منع دی.
- کوښښ وکړی چي د No Pass Zone څخه مخکي لین بدل کړی.
- تاسو په هغه صورت کي کولای شی چي په راسته لاس کي تر بل موټر تیر شی چي مخامخ روان موټر مو لاره نه وي نیولي یعني مخامخ لاره پوره درته مالومیږي او خطر موجود نه وي.
- کله چي د بایسکل، پیاده او یا هم موټرسایکل څخه تیریږی نو موټر مو کرار کړی او لږ تر لږه د تیریدو په وخت کي ۳ فوټه واټن ورسره ونیسی.
- کچیري کوم بل موټر والا غواړي ترتاسو تیر شي، تاسو مو د موټر سرعت مه زیاتوي او همدغسي خپل موټرچلولو ته ادامه ورکړی او یا هم کرار شی چي هغوی تر تاسو تیر شي.

***په لاندي حالاتو کي تیریدل غیرقانوني او یا هم خطرناک دي:***

- پر ریل پټلۍ، غونډۍ، څلورلاري او یا هم ګولایي باندي تر بل موټر تیریدل منع دي اما کچیري سړک تر یا دري زیات لینونه ولري بیا ستونزه نشته.
- د ډانبر څخه خامي ته کښته کیدل او یا هم د سړک په غاړه کي تیریدل منع دي.
- کله چي د ښوونځی بس دریدلی وي.
- کله چي یو سړک په یوه یا دوه ننښو یا کرښو جلا شوی وي.
- کله چي پیاده رو ته نژدي کیږی او ستاسو مخ ته موټر ولاړ وي.

## د موټر کنترول له لاسه ورکول:

دا هغه وخت رامنځته کیږي چي کله موټرچلوونکی اشترینګ یو دم تاو کړي. په همدې سره موټر خپل بیلانس یا توازون د لاسه ورکوي او د موټر د چپه کیدو سبب ګرځي. نو موټروان ته پکار ده تل د موټرچلولو پرمهال بیداره او ویښ واوسي. څو که مو کله احیانا کنترول د لاسه ورکړی تاسو ته مهمه ده چي همداسي ارام پاته شی او کرار کرار خپل د موټر کنترول بیرته لاسته راوړی، نه دا چي تاسي وارخطا شی.

## تاویدل یا ګرځیدل

**راسته خوا ته ګرځیدل**: کله چې تاسو غواړئ راسته خواته وګرځئ نو لومړی مو باید د راسته خوا اشارې لګولې وي او بیا په کراره راسته خوا ته وګرځئ خو تل کوښښ کوئ چې تاسو ته نژدې لین کې داخل شئ او بیا چې کله سړک مو وځاری لین بدل کړئ. په یاد ولرئ چې راستې خوا ته ګرځیدو دپاره تاسې باید راسته لین کې یاست.



**چپه خوا ته ګرځیدل**: کله چې تاسو غواړئ چپه خواته وګرځئ نو لومړی مو باید د چپې خوا اشارې لګولې وي او بیا په کراره چپه خوا ته وګرځئ خو تل کوښښ کوئ چې تاسو ته نژدې لین کې داخل شئ او بیا چې کله سړک مو وځاری لین بدل کړئ. په یاد ولرئ چې چپې خوا ته ګرځیدو دپاره تاسې باید چپه یا کیڼ لین کې یاست.

کله چې دوه موټران مخ په مخه چپې خوا ته د ګرځیدو هڅه کوي نو باید دواړه خپل د چپې خوا اشارې ایله کړي او په احتیاط خپلو خواو ته وګرځي، لکه څنګه چې انځور کې ښودل شویده.

## بیرته راګرځیدل یا U-Turn



بیرته راګرځیدل په هر ځای کې نشته او یا هم غیرقانوني دی خو په کومو ځایونو کې چې شته هلته بیرته راګرځیدل ستونزه نه لري او چیرې چې اجازه نه وي هلته حتما دغسې نښې نصب شویدي دي. کله چې دا عمل ترسره کوئ پام مو وي چې احتیاط وکړئ او د سړک خالي کیدو ته انتظار شئ. اما پر عمومي یا غټو لارو هیڅکله بیرته راګرځیدل اجازه نه لري او نه هم کیدای شي.

## د لاس اشاره

کله چې تاسو غواړئ لین بدل کړئ، تاو شئ، بل سړک ته ننوځئ یا ووځئ نو لومړی مو د موټر اشارې ایله کړئ او بیا وګرځئ. خو تاسو کولای شئ چې پر غټو او عمومي لارو باندې د لاس په اشارو هم نور موټروانان وپوهوئ چې یعنی تاسو غواړئ راسته یا چپه لاس ته وګرځئ.



چپه لاس ته ګرځیدل | راسته لاس ته ګرځیدل | کرار شه یا ودریږه


د سړک کرښې د ترافیکي پیښو په مخنیوي کې لوی رول لري، نو تاسو کوښښ وکړئ چې د سړک کرښې تعقیب کړئ ترڅو ستاسو او نورو موټرانو ترمنځ کافي اندازه واټن موجود وي او د یو او بل له خطره خوندي یاست.


## د واټن مراعتول:

د موټر شاوخوا کې د کافي اندازه واټن ساتل تاسو د ټکر څخه ساتلی شي، پدې مانا چې تل هڅه کوی چې د لین په منځ کې موټر وچلوی، د موټر مخکې او شاته مناسبه واټن پرېږدی ترڅو تاسو او نورو ته د لین په بدلولو کې ستونزه نه وي. یعني لږ تر لږه ستا او ستا مخکې موټر ترمنځ باید یو بل موټر ځای شي.

او یا هم کولای شی چې د ثانیو حساب وکړی مثلاً کله چې تاسو بل موټر شا پسې روان یاست نو ستاسو او د هغه موټر ترمنځ واټن باید د لاندې چارټ او ثانیو په اساس وي:

| د تعقیب یا بدرګۍ واټن | |
|---|---|
| **دا لاندې واټن د ثانیو په حساب ستاسو سره د ټکر په مخنیوې کې مرسته کوي** | |
| دوه (۲) ثانیې | چې کله مو سرعت تر ۳۵ کښته وي |
| درې (۳) ثانیې | چې کله مو سرعت ۳۵- ۴۵ وي |
| څلور (۴) ثانیې | چې کله مو سرعت ۴۶- ۷۰ وي |






*د تعقیب یا بدرګۍ لارښوونې په لاندې ډول دي:*

- ستاسې مخکې چې کوم موټر روان وي هغه ګورې او د سړک پر شاوخوا کوم شی درسره د نښانې په حیث د یوځو شیبو دپاره ذهن کې درسره ونیسی ترڅو مالومه کړې چې ستاسو او د هغه موټر ترمنځ واټن څومره دی.
- او بیا د ثانیو په شمېرولو سره کولای شی چې واټن ځانته تعین کړې.
- کچیرې تر ټاکلې نښې پورې د تعین شوو ثانیو څخه مخکې ورسیدلاست نو سرعت مو کم کړې.
- د هوا د خرابۍ له وجهې او یا هم د سړک د خرابۍ له وجهې تاسې کولای شی چې د تعقیب پر مهال مو واټن زیات کړې.

دا لاندې حالاتو کې مو واټن کم کړې:

- کله چې ستاسې مخ ته غټ موټر روان وي
- کله چې هوا خرابه وي او یا هم سړک باندې رش وي
- کله چې د ځانګړې لارې څخه وځی
- کله چې دموټرسایکل یا بایسکل شاه کې روان یاست
- کله چې بل موټر ډېر نژدې در پسې وي

Tailgating پدې مانا چې ستاسو شاه ته بل موټر ډېر نژدې او کم واټن کې روان دی. کچیرې تاسې ددغسې حالت سره مخ شی نو سمدستې بریک مه وهی بلکه موټر مو کرار کړی او یا هم بل لین ته ورسه واوړی ترڅو د ټکر مخنیوی شوی وي.

## لټون:

لټون یا لټول پدې مانا چې تاسو باید د سړک پر سر او شاوخوا باندې خبر واوسی مثلاً که مو مخ ته کوم شی یا څوک نابېره راځي تاسو باید تیار یاست او یا هم کومه لوحه او لارښووني راځي تاسو یې باید بدرګه کړی که یې اړتیا وه.

تاسو باید تل بیداره او ویښ واوسئ. د موټرچلولو پرمهال مو باید سترګې او ماغزه دواړه خلاص وي چې مخامخ لاره، د موټر شاه، دواړه بغلونه یا اړخونه، د سړک پرسر او غاړو کې لوحي او لازمي لارښووني وڅارلای شي.

## تیاره ځای یا Blind Spot

تیاره ځای داسي ستاسي د موټر یو داسي ځای یا برخه ده چې تاسي نشی کولای بل موټر په آسانی سره هلته ووینی. دا د موټرچلوونکي هغه اړخونه دي چې د بغل په هنداروکې نه مالومیږي نو ښه حل لاره یې داده چې هر وخت د موټرچلولو مخکې خپل د موټر کوچنی هنداري ځان ته برابري کړی ترڅو خپل څنګ کې موټر وکړای شی ووینی او د ټکر مخنیوي وکړی. او تل هڅه کوی چې د بل موټرچلوونکي تیاره ځای کې ونه اوسی ځکه هغه مو هم نه شي لیدلی.

### د نورو سره د سړک شریکول:




داسي فکر مه کوی چې سړک یوازي ستاسو دپاره جوړ شوی دی. د سړک څخه د انسانانو په شمول کله نا کله حیوانان هم کار اخلي. نو لکه څنګه چې تاسو پر سړک باندې د موټرچلولو حق درکړل شوی، تاسو هم د نورو انسانانو او حیوانانو د حق درناوی وکړی. ځکه د موټرچلوونکو ترڅنګ سړک باندی موټرسایکل، بایسکل، پیاده، او نور هم وي او استفاده ور څخه کوي.

په یاد ولری چې:



- باید احتیاط وکړی او کرار موټر وچلوی چیري چې د ښوونځی ساحه وي او یا هم د ماشومانو د لوبو کولو ساحه وي.
- د زیات عمرلرونکو خلکو خیال ساتی ځکه هغوی عموما کرار موټرچلوي او یا هم کرار تګ کوي نو احتیاط کوی، (د ژباړونکي نوټ: که څه هم د مشرانو عزت کول زموږ او ستاسو د کلتور مهمه برخه ده او لیکلو او ویلو ته اړتیا نه وي خو دلته یې ژباړل اړین وه).
- کله چې راستي یا چپ خوا ته ګرځئ پام مو وي چې پیاده کسان د تیریدو په حال کی نه وي. که خلک وي نو باید تم شی ترڅو هغوی تیری شي او بیا تاسو روان شی

- موټرچلوونکي باید ودرېږي ترڅو پیاده کسان تیر شي.



**بایسکل**: بایسکل چلوونکي هم د موټرچلوونکو په څیر د مکمل حق څخه برخمن دي. لکه څنګه چې موټرچلوونکي د لین او سړک په منځ کي موټر چلولای شي همدغسي بایسکل چلوونکي کولای شي. بایسکل چلوونکي کولای بغیره عمومي سړک څخه پر نورو ټولو سړکانو بایسکل وچلوي خو باید لکه څنګه چې موټرچلوونکي ترافیکي قوانین مراعتوي، دوی یې هم مراعت کړي. موټرچلوونکو ته پکار ده چې د بایسکل چلوونکو سره احتیاط وکړي.



**موپېډ یا نیمه موټرسایکل**: موپېډ چلوونکي کولای شي چې د ټولو سړکانو څخه استفاده وکړي اما سرعت یې باید تر ۳۵ زیات نه وي ځکه که یې سرعت تر ۳۵ زیات شي بیا نو مجبور دی چې د موټرسایکل لایسنس واخلي. موپېډ چلوونکي باید تل خولۍ یا هیلمیټ او د سترګو ساتلو لپاره عینکي آغوستي وي.

**موټرسایکل**: په امریکا کې تقریبا نیمایي مرګوني ټکرونه د موټرسایکل او موټر ترمنځ رامنځته کیږي او دا اکثره وخت د موټروالاو د بې پروایي له وجهې کیږي ځکه اکثره یې د موټرسایکل د نه لیدو په صورت کې ترسره کیږي. دا لاندي ټکو ته پام وکړئ.

- د موټرسایکل سره احتیاط وکړئ. اکثره وخت د ټکر وروسته موټرچلوونکي ادعا کوي چې ګواکي موږ موټرسایکل نه دی لیدلی ځکه ددوی تل په موټرانو کي سترګي وي نه دا چې باید پر سړک تلوونکي ټول وخاري. نو مهمه ده چې تاسو سړک ته متوجه شی او د موټرسایکل چلوونکو سره احتیاط وکړئ.
- کله چې لین بدلوی او یا هم کومي خواته ګرځئ نو Blind Spot ته مو پام وي ځکه موټرسایکل کوچنی دی او کیدای شي چې تاسو په اسانۍ سره ونه وینئ.
- هیڅکله د روان موټرسایکل شاه ډیر مه نژدي کیږئ، کافي اندازه واټن وساتئ او په خرابه هوا کې مو واټن دوه برابره کړئ.
- هیڅکله د موټرسایکل سره څنګ په څنګ په یوه لین کې موټر مه چلوئ.
- تل موټرسایکل ته اجازه ورکوئ چې تیر شي.

**برېښنایي یا برقي ریل ګاډه**: د ویرجنیا ایالت په نورفوک ښار کې یوه برېښنایي ریل ګاډه چې د ټایډ (Tide) په نامه یادیږي شتون لري. ټایډ تقریبا ۷,۴ میله ساحه تر پوښښ لاندي لري، د ۲۷ څلور لارو څخه تیریږي، او د هم هغه سړکانو څخه استفاده کوي چې موټران او بایسکلان ورڅخه استفاده کوي یعني یو سړک دی، ټول یې کاروي. که مو د ټایډ په شاوخوا کې موټر چلوی نو دا لاندي ټکي د خوندیتوب پخاطر په پام کې ولرئ:


- ترافیکي اشارو ته مو پام وي او مراعت یې کړئ.
- هیڅ کله دریل د کښته شوي دروازې څخه مه تیریږئ.

- تل د تیریدو پرمهال خپل دواړو خواؤ ته ښه وګورئ.
- پدې باید پوه شی چې ریل کیدای شي هر وخت کې هره پټلۍ باندي شي.
- تل ترافیکي نښو او لوحو ته توجه کوئ.
- هیڅکله پر ریل پټلۍ باندي مه دریږئ.
- هیچ وخت دریل کرښي څخه مه تیریږی ترڅو کافي ځای ونلرئ.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.gohrt.com ته مراجعه وکړی او یا هم ۷۵۷۲۲۲۶۱۰۰ شمیري سره اړیکه کي شئ.

**کم سرعته موټران**: دا برقي او ګازي موټران چې ډیر تر ډیره د ۲۱ او ۲۵ ترمنځ سرعت لري شاید تاسو ورسره مخامخ شی. دا موټران هم باید لکه نورعادي موټران ټول ترافیکي قوانین او لایحي مراعت او تعقیب کړي.

**غټ موټران**: دا موټران لکه تراکتور، بس، او دوه سیټه ټیوټا موټران تر نورو عادي موټرانو غټ، جګ، او زورو دی. لکه څنګه چې چالاندیدل او ګرمیدل یې ډیر وخت نیسي همدا شان بریک وهل یې هم ډیر وخت غواړي. دا غټ موټران یوشو تیاره ځایونه یا Blind Spots هم لري چې ورته No-Zones هم وایي. دا هغه ځایونه دي چي موټروان نشي کولای تاسو ووینې او دا ځایونه د موټر په مخ، شاه، او دواړو اړخونو کي شتون لري. لاندي برخه کي مو په تفصیل سره بحث پر کړی، هیله ده ورته متوجه شی.



- **د بغلونو تیاره ځای**: غټ موټران لکه څومره چي په تنه غټ دي همدومره د ګرځیدو او تاویدو دپاره غټي ساحي ته اړتیا لري. کله چي ددې موټرانو سره پر بغل کیږی نو د موټر کوچنیو د بغل هندارو ته پام کوی څکه کچیري تاسو خپل ځان د غټ موټر په بغلي هندارو کي نشی لیدلی، د غټ موټر موټروان هم تاسو نشي لیدلی. نو باید ژر تر ژر ددې موټرانو د بغلونو څخه ځانونه لیري کړو، یا تر تیر شو او یا هم ده ته اجازه ورکړو چي تر موږ تیر شي.
- **د شاه تیاره ځای**: د غټو موټرانو موټروانان هیڅکله نشي کولای چي خپل د موټر شاه کي څه روان وي هغه ووینې. نو کچیري تاسو نژدي په پسي یاست او هغه یو دم بریک ووهي تاسو حتما ورسره ټکریږی، نو مهمه ده چي تاسو ددې موټرانو سره کافي اندازه واټن وساتی.
- **د مخ تیاره ځای**: د غټو موټرانو لکه مخکي چي مو یادونه وکړه بریک وهل او دریدل ډیر وخت غواړي نو کوښښ وکړی چي تل په احتیاط تر تیر شی. او هڅه وکړی چي د غټو موټرانو د مخ څخه لرې لیري واوسی.

- **پراخه تاویدل**: غټ موټران لکه مخکې چې مو یادونه وکړه غټې ساحې ته اړتیا لري ترڅو وګرځي راوګرځي او یا هم تاو شي. هیڅکله غټو موټرانو ته د ګرځیدو او تاویدو په وخت کې مه نژدې کیږی ځکه هغوی نشي کولای تاسو ووینې.

**ټریلران**: ټریلران هم لکه هغه نور غټ موټران وزن او قد یې غټ دی او په آسانۍ سره سړی نشي لیدلی، نو مهمه ده چې د دوی سره هم د تیریدو او تاویدو په وخت کې احتیاط وشي. البته دا هغه ټریلران دي چې د ټیلو په شکل په موټر پسې تړل کیږي.

مخکې له دې چې ټریلر وچلوی ځان مطمین کړی چې:

- چنګک په بشپړه ډول خپل ځای ته ورغلی او که نه
- موټر او ټریلر مو د چنګک په ذریعه وصل شوي که نه
- ساکیت سم نصب شوی که نه
- د بریک اشاري، د بغل اشاري، او د پلیټ اشاري مو سم کار کوي که نه

مخکې له دې څخه چې ټریلر سړک ته راوباسی او د منزل پر لور روان شی، په یو خالي تم ځای کې لږ تمرین وکړی او ځان مطمین کړی چې هر څه سم دي بیا مو سفر ته ادامه ورکړی.

## شا ته تلل یا ریورس

تر ټولو غټه غلطي چې اکثره موټروانان یې کوي هغه داده چې دوی یوازې د بغل پر هندارو تکیه کوي، حال داچې د بغل هنداري د موټر شا مکمله نه مالوموي. نو پکار ده چې تاسو د شا تګ په حال کې یو څه سر او مغزي ته هم تکلیف ورکړی.

## دموټر درول


کله چې پر عمومې یا فرعي سړک موټر دروی، کوښښ وکړی چې د سړک پر غاړه یې ودروی چې د سړک څخه لیرې وي، چې نه تاسو ته مزاحمت وي او نه پر سړک روانو موټرانو ته. او په یو اړخیزه یا دوه اړخیزه کوڅو کې یې چې هره غاړه باندې ودروی ستونزه نلري.




## پر غونډۍ موټر درول

**هغه سړک چې غاړه یې پخه وي یا پیاده رو لري:**

ددې دپاره چې موټر مو یا شا ته یا مخ ته پخپله حرکت ونکړي نو د دریدو وروسته مو د موټر اشترینګ وګرځوی چې ټایرونه یې همداسې یو خوا ته تاو شوي پاته وي. که یې پر غونډۍ باندې مخامخ دروی، نو لکه انځور کې چې ښودل شوي، باید پایې یا ټایرونه یې چپې خواته تاو کړی. او که یې پر مخ شوه دروی، نو پایې یا ټایرونه یې باید راستې خواته تاو پریږدی.




**هغه سړک چې غاړه یې خامه وي یا پیاده رو نلري**: دلته بیا لکه انځور کې چې ښودل شوي ده په دواړو حالاتو کې باید د موټر پایې یا ټایرونه د دریډو وروسته راستې خواته تاو پریږدی.

خو کله چې د موټر څخه راکښته کیږی او دروازه مو خلاصوی، شاوخوا مو څاری چې نور موټران، بایسکلان او یا هم پیاده خلک خو به نه وي چې بیا ستاسو د دروازي خلاصیدو وخت کې یو بل ته مزاحمت ونه شي.

*په لاندي شرایطو کې د موټر درول منع دي:*

- د بل دریدلي موټر په څنګ کې
- پر پیاده رو باندي
- د بل چاه د کور یا ګاراج مخ ته
- په هغه ځایونو کې چې د موټر درولو اجازه وي
- په هغه ځای کې چې د معیوبینو دپاره ټاکل شوی وي
- د عمومي سړک پر سر
- د اور وژني پایپ یا برمې او یا هم Fire Hydrant ته په ۱۵ فوټه واټن کې
- څلور لاري ته په ۲۰ فوټه کې
- د بایسکل او موټرسایکل په لین کې
- د اطفایې او امبولانس مرکز ته په ۱۵ فوټه کې
- د اور وژني د عملیاتو پرمهال اطفایو ته په ۵۰۰ فوټه کې
- ریل ګاډي ته په ۵۰ فوټه کې
- پداسي ځای کې چې تاسو نورو موټرانو مزاحمت وکړی او یا یې هم لاره ور بنده کړی.

## دید یا لیدلوری

اکثره هغه اعمال چې تاسو د موټرچلولو پرمهال ترسره کوی ستاسو په دید یا لیدلوري پوري اړه لري. که غواړی چې ښه موټرچلوونکې واوسی باید د موټرچلولو پرمهال بیداره او ویښ واوسئ. د سړک حالات، مخ ته، شا ته، او بغلونو ته مو باید پوره توجه وي.

## څراغونه یا اشاري

په ګکړه هوا، باران او واوره کې باید ستاسو د موټر بتۍ یا څراغونه لګیدلي چالانده وي څکه یو خو به ستاسو موټر نورو ته ښکاري او د نورو ده تاسو ته او بل به مو د ویرجنیا د ترافیکي قوانینو پالنه کړي وي. نو که څه هم ورځ وي، په پورتني حالاتو ستاسو د موټر بتۍ باید چالانده وي.

## خطرناکه حالات

د باران، واوري او ککړي هوا له امله د سړک حالات خطرناکه وي او موټرچلول هم ستونزمن وي. کچیري تاسي دداسي حالاتو سره مخامخ کیږی، نو لومړی کار به مو دا وي چي د موټر سرعت کړی او بیا د تعقیب واټن چي مخکي هم ورته اشاره شوي زیات کړی او د موټر څراغونه مو روښانه کړی. دا احتیاطي تدابیر کیدای شي ستاسو ژوند وژغوري.

## دشپې لخوا موټرچلول

**د لمر لویدو وروسته**: چي څنگه لمر پر لویدو شي تاسو باید د موټر څراغونه یا بتۍ روښانه یا چالانده کړی. ددې دپاره چي ستاسو موټر نورو ته ښکاره شي او نورو موټران تاسو ته ښکاره شي.

**د نیمه روښانه بتیو څخه کار اخیستل:** کله چي په ښارونو او کلیو کي موټر چلوی، د نیمه چالانده بتیو څخه کار واخلی خو کچیري ستاسو دید کمزوری وي او یا هم ځینو کوڅو کي څراغونه نه وي نو تاسو کولای شی چي د تیزو بتیو څخه واخلی. د نیمه بتیو استعمال ددې دپاره دی چي ستاسو مخکي یا ستاسو مخامخ موټروانانو ته مزاحمت ونه شي.

**د تیزو بتیو څخه کار اخیستل**: کله چي تاسو پر عمومي لاره موټر چلوی ، تاسو کولای شی چي د تیزو بتیو څخه کار واخلی اما چي نورو موټرانو ته مزاحمت نه وي. کچیري کوم بل موټر په تیزو بتیو پر تاسو مخامخ را روان وي، تاسو باید د هغه د قصده خپل بتۍ تیزي نه کړی.

### غُبار

غبار عموما ستاسو د موټر د څراغ رڼا منعکس کوي یعني بیرته یې پرتاسو راولي. په غبارجنه هوا کي د نیمه چالانده بتیو څخه کار واخلی، د موټر سرعت مو کم کړی، او د سړک غاړو او نښو ته پام کوی ځکه کیدای شي د غبار له امله پوره سړک درته مالوم نه شي.

### باران

په باراني حالاتو کي د موټرچلول کیدای شي هغومره خطرناکه وي لکه په غُبار کي خصوصاً چي کله تیز باد هم وي. نو تاسو ته پکارده چي د نیمه روښانه بتیو او د برپاکونو څخه مو کار واخلی او سرعت مو کم کړی.

### واوره

مخکي له دي چي موټر مو چالانده کړی، د موټر څخه واوره په مکمل ډول پاکه کړی خصوصاً د سر او مخ څخه. ځکه کچیري پاته وي او تاسو موټرچلوی، کیدای شي هغه پاته واوره او یخی د نورو موټرانو د تصادف سبب شي. خپل موټر مو د هوا د حالاتو سره مجهز کړی.

## د خطرناکه موټرچلولو رویه

### قهرجن چلاو

په قهر یا غصي موټر چلول چي د نورو موټروانانو د ازار او ازیت سبب گرځي په ویرجنیا کي منع او غیر قانوني دی. مثلا، ترافیکي اشارو ته نه درېدل، د بل موټروانان مخ ته یو دم یا ناڅاپه موټر وراچول، ناڅاپه او غیرمنظم د لین بدلول، چیغي

او آرنګونه وهل، د سړک په غاړه کې موټر تېرول، او بې مانا حرکتونه ترسره کول.... څکه غصه ناکه موټروانان خپل جوش او غُصه پر نورو موټروانان باسي او هر څه غیرقانوني دي.

**ځان وساتئ**. کچیري تاسي د یو قهرجن او لیوني موټرچلوونکي سره مخ شی نو ځان مه ورسره نیسی یعني سیالي مه ورسره کوی او پرېږدی یې چي ستاسو څخه تیر شي. *په یاد ولری چي کچیري تاسي په قهرجن یا غُصه ناکه موټرچلولو باندي ونیول شی، نوکیدای شي چي ستاسو د موټرچلولو جواز یا لایسنس لږ تر لږه د ۱۰ ورځو یا ډیر تر ډیره د ۶ میاشتو دپاره ضبط او وځنډول شي.*

## د موټر چلولو پرمهال په بل شي ځان مشغولول

په یاد ولری چي موټرچلول ستاسي پوره پام او فکر ته اړتیا لري، خو ځیني بوختوونکي کارونه لکه، رادیو بدلول، مسافرینو سره خبري کول، شاوخوا منظرو کې فکر کول، خوړل، موبایل کې خبري کول او داسي نور. دموټر چلولو په وخت کې نه باید د موبایل، کمپیوتر او یا نورو وسایلو سره ځان مصروف کړی څکه ستاسو بې غوري د ژوند بایلولو سبب کیدای شي. کچیري ډیر اړین وي، بیا موټر یو بغل کې ودروی او کار مو خلاص کړی تردې چي د چلولو پرمهال ځانونه نورو شیانو مصروفه کړی.

دویرجنیا د قانون په اساس د ۱۸ کالو کم عمر لرونکي هیڅکله او هیڅ وخت نشي کولای چي په موټر کې د تلیفون څخه استفاده وکړي. او د نوي قانون په اساس چي ۲۰۲۰ کال کې تصویب او نشر شوی، موټرچلوونکي (بېله توپیره) د موټرچلولو پرمهال د تلیفون څخه استفاده نشي کولای او کچیري کوم څوک سرغړونه وکړي جریمه کیږي.

*دا لاندي لارښوونو ته پام وکړی:*

- تل متوجه واوسئ. سترګي مو باید پر سړک او لاسونه مو پر اشترینګ وي. جسم او دماغ مو فعاله او په سیټ کې سیده ناست واوسئ . پدې مانا چي سیټ پریوځی مه.
- چوکۍ، اشترینګ، او هنداري مو تر حرکت مخکي ځانته جوړ کړئ.
- د موبایل څخه کار مه اخلئ.
- په روان حالت کې مو تل د موټر شا او مخ ته باید پام.
- په موټرانو پسې ډیر نژدې مه ځی، کافي اندازه واټن وساتئ.

د خوب په حالت کې موټرچلول:

د لاري څخه اوښتل، سر زنګیدا، سترګي پټي پټي کیدل، خوله کش کش کول، پر سړک باندي لوحو او نورو شیانو ته پام نه کول ټول هغه مثالونه دي چي څرګندوي چي موټروان د خوبه ډک دی یعني خوب ورځي او موټرچلاو او کنترول ورته ستونزمن دي. د خوب ورتلو په حالت کې موټر چلول یوازي حماقت او د ځان او نورو ژوند خطر کې اچول دي او بس. د خوبن چلاۋ د مخنیوي دپاره دا لاندي لارښووني په پام کې ونیسئ.

- مخکي له دې چي موټر وچلوی، خپل خوب پوره کړئ
- د ډیر خوراک او الکولي یا نشه یې مشروباتو څخه ډډه وکړئ
- هغه دوا مه خوری چي ستاسو پر موټرچلولو بد آغیز کوي
- د اوږده سفر پرمهال لږ تر لږه هر دوه ساعته دمه کوئ

- په یو محفوظ ځای کې ودرېږی او حد اقل ۱۰ یا ۲۰ دقیقې خوب وکړئ
- که ممکنه  وي، د بل ملګري څخه مرسته وغواړی
- که یې امکان درلود، د شپې د ۱۰ او د سهار د ۶ بجو ترمنځ د موټرچلولو څخه ډډه وکړئ ځکه دا د خوب کولو وخت وي.

د ژاولو ژوول، په لوړ اواز سندري اوریدل، د موټر کړکۍ کښته کول، د انرژي او قهوي څښل د خوبن چلاؤ سره مرسته نشي کولای ځکه دا یو ډول ناروغي ده او یوازي د خوب په پوره کولو له منځه ځي. کچیري تاسو کوم څوک پداسي حالت کي ولیدی، هیله ده چي پولیسو ته زنګ ووهی او یا یې تاسو پخپله متوجه کړی.

## د نشې په حالت کي موټرچلول

د قانون مطابق، کوم څوک چي ۲۱ کلن او یا هم لوړ وي او په نشه حالت کي پر موټرچلولو ونیول شي او معاینه یې هم .80 راشي نو حتماً به په DUI (د نشي تر آغیز لاندي راتلل) محکومیږي. خو کوم څوک تر ۲۱ کلنی کم وي او معاینه یې .20 (عشاریه صفر دوه) یا زیاته راشي، بیا به هم په غیر قانوني نشه کولو محکومیږي او که یې معاینه تر .80 (عشاریه صفر آته) لوړه راشي، نو په  DUI به محکومیږي. کچیري ستاسو موټرچلول ګډوډ وي او پولیس درباندي پوه شي او ومو نیسي او تاسو بغیره الکولي مشروباتو د کوم بل شي نشه کړي وي او موټرچلوی بیا هم کیدای شي په DUI محکوم شی.

د عالمانو د قوله، په هرو لسو نفرو کي درې نفره (چي د شپې د لسو او د سهار د دوو بجو ترمنځ موټرچلوي) نشه وي. دریمه حصه ددغو موټرچلوونکو د بل پر کور نشه کړي وي او ۵۰ سلنه ددغو خلکو يې دایمي نشه یان ندي بلکه پیښه ګک دي. نو دا فکر مه کوی چي تاسو به ګیر نشی ځکه که نشه کوی نو حتماً به یو وخت نیول کیږی.

یوازي یو غړپ الکولي مشروبات (هغه که بیر وي او که شراب) او یا هم یو دود سګریټ ستاسو پر مغزو او دماغ پوره آغیز کولای شي چي ستاسو پر موټرچلولو بشپړه آغیز درلودلای شي. نو کله چي ستاسو دماغ سم فعالیت ونشي کړای، تاسو کیدای شي چي د مرګوني ټکر سره مخ شی. او کچیري نشه یې توکي او الکولي مشروبات یوځای سره کار شي بیا خو يې آغیز څو چنده کیږي. نو پکار ده چي یا نشه پریږدی او یا د نشي په حالت کي موټرچلول پریږدئ.

## ترافیکي پیښي

که چیري تاسي په کومه ټرافیکي پیښه کي شامل یاست نو:

- ودریږئ، په همغه ځای کي چي پیښه شویده. سړک مه بندوی او که څوک زخمي یا ژوبل نه وو، تاسو کولای شی چي د پیښي د ځای څخه لږ لیري هم شی ترڅو سړک بند نشي.
- مرسته وکړئ، که مو په وسه وي. خو کچیري تاسي طبي زده کړه نه وي کړي او موټر د اور اخیستو له خطره بهر وي، نو ژوبل شوي کسان یا کس په همغه ځای ښه دی، مه يې ښوروئ.
- د پیښي راپور ورکړی، هر څومره ژر چي ممکن وي پولیس خبر کړی. هره هغه پیښه چي مالی او ځاني زیان ولري باید پولیس په خبر شي.

- ➢ مالومات سره تبادله کړی، خپل مالومات ورکړی او د هغوی څخه دا لاندي مالومات ترلاسه کړی:
  - o نوم، آدرس، او د هغه د لایسنس نمبر
  - o د هغه د پلیت نمبر
  - o د ژوبل شوي شخص نوم او آدرس
  - o د شاهد نوم او آدرس
  - o نوم، آدرس، او د بیمي اړونده مالومات
- ➢ خپل بیمه کوونکي شرکت ژر تر ژره خبر کړی

پولیس مکلف دي چي هر هغه پیښه چي ځاني زیان ولري او یا هم مالي زیان يې تر ۱۵۰۰ ډالرو زیات وي DMV ته ریپورټ کړي. د پیښي اړونده مالومات ټول د موټرچلوونکي په حساب کې رسیږي.

## د هوسۍ سره د ټکر خطر

هر کال په ویرجنیا کي په زرګونو ټکرونه او حادثي رامنځته کیږي چي هغه کې اکثره وخت د هوسیانو د وژلو ترڅنګ موټران هم زیانمن کیږي. د هوسۍ سره د ټکر د مخنیوي دپاره لاندي لارښووني تعقیب کړی:

- ➢ د لمر ختلو او لویدلو په وخت کي احتیاط کوی خصوصاً چي کله خزان وي
- ➢ هوسیاني عموماً په رمه ایز یا ډله ایز ډول ګرځي، نو کچیري تاسو یوه یا دوي هوسۍ وینی، موټر مو کرار کړی ځکخ کیدای شي هلته نوري هم وي.
- ➢ په آرانګ وهلو يې وبیروی.
- ➢ که د ټکر د مخنیوی چاره نه وه، او تاسو بیا هم کوم حیوان په شمول د هوسۍ په موټر ووهی، نو پولیسو ته خبر ورکړی.

## د پولیسو لخوا دریدل

*کچیري تاسي د پولیسو لخوا ودرول شی، نو دا لاندي لارښووني به یلي کوئ:*

- موټر مو د سړک بغل کي ودروئ.
- ایمرجنسي یا د دواړو خواو ډیم اشاري مو روښانه یا ایله کړئ.
- آرام واوسئ.
- کچیري شپه وه نو د موټر دننه څراغونه مو هم ولګوئ.
- د موټر ماشین، رادیو او یا داسي نور وسایلو چي مزاحمت کوي بند کړئ.
- د موټر شیشه مو کښته کړی ترڅو  تاسو او پولیس یو بل سره خبري وکړی.
- تاسو او په موټر کي ناست ټول باید خپل کمربندونه وتړئ.
- خپل موټر کي پاتي شی او مه راوځی ترڅو چي پولیس نه وي غوښتي.
- خپل لاسونه شترینګ باندي ونیسی ترڅو پولیس ستاسو لاسونه ووینې.
- داسي حرکات مه ترسره کوی چي پولیس درباندي شکمن کړي.

- که پولیس غوښتنه وکړل، خپل د موټرچلولو جواز، رجسترخط او نور اسناد ور وښیاست اما یو لاس مو باید په اشترینګ پروت وي.
- کچیري پولیس په کوم بل موټړ یا کالو کي وو، تاسو کولای شي چي د هغه څخه د هغه آیډیکارت وغواړی.
- د پولیس ټولو سوالونو ته ښه ځواب ورکړی، کچیري تاسي د هغه د خبرو سره موافق نه واست نو تاسي کولای شي چي د زیاتو مالوماتو دپاره محکمې ته ولاړ شی اما د پولیس سره جر او بحث مه کوئ.
- که پولیس ستاسو څخه د لاسلیک غوښتنه وکړه، تاسو یې اطاعت وکړئ، د نه لاسلیک په صورت کي به تاسو شاید ونیول شی او یا هم حوزي یو وړل شی.

## څلورمه برخه

## کمربند، د ټکر کڅوړه یا ایربیګ او د ماشومانو سیټ یا چوکۍ



په دغه برخه کي به تاسي لاندي موضوعات زده کړی:

- د موټړ دننه کمربند
- د ټکر کڅوړه یا ایربیګ
- د ماشومانو سیټ یا چوکۍ

د موټړ دننه کمربند ټړل کیدای شي چي ستاسو ژوند وغوري!

### کمربند

د ویرجنیا د قانون په اساس، موټروان او د موټروان بغل کي ناست ټول انسانان باید کمربند وتړي. هغه انسانان چي عمرونه یې تر اتلس کلنۍ کم وي او که څه هم د شا په سیټ کي ناست وي، باید کمربند وتړي او که ماشوم وي نو بیا باید د ماشومانو په سیټ کي کښيني. اما کوم څوک د کمربند سره حساسیت ولري، کولای شي چي د ډاکټر څخه د کمربند د نه تړلو اجازت لیک واخلي او هر وخت یې موټړ کي ځان سره وساتي.

### د ټکر کڅوړه یا ایربیګ

دا په موټړ کي دننه نصب شوی سیسټم دی چي د ټکر پرمهال د موټروان او ورسره مخته ناست ملګري د سر، مغزي او ځیګر حفاظت کوي. باید ووایو چي په بشپړه یې ساتنه نه کوي اما د زیات او دروند ټپ څخه یې ساتي یا لږ تر لږه یې د موټر د مخ هنداري څخه ژغوري.

*کچیري ستاسي موټړ ایربیګ لري، نو:*

- تل هم خپله کمربند تړی او هم درسره موټر کې ناست ملګرو ته واياست چې وې تړي.
- خپل سيټ د اشترينګ څخه لږ تر لږه ۱۰ اينچه بايد ليري کړی.
- کچيري ستاسي د موټر اشترينګ پورته او کښته کيدلای شي، نو اشترينګ مو تل کښته د ځيګر پر برابر ساتی ددې دپاره کچيري خدای مکړه ټکر وکړی نو د ايربيګ آغيز به ستاسو پر ځيګر وي.تاسی ته مخامخ تنظيم کيدای شی نو بيا هم ځان ته يی نږدی مه کوی
- هغه ماشومان چې عمرونه يې ۱۲ يا تر ۱۲ کالو کم وي، شا سيټ کې يې کښينوی.

پدې اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره لاندي ويب سايت ته مراجعه وکړی www.nhtsa.dot.gov او يا ۱۸۰۰۴۲۴۹۳۹۳ شميرې سره اړيکه ونيسی.

## د ماشومانو چوکۍ يا سيټونه

ماشومان د ماشومانو په ځانګړي سيټ کې کښېنول هوښيار کار او د قانون پابندي دي او د ټکر پرمهال ماشومان د لوی آفت څخه ژغوري.

ټول ماشومان چي عمرونه يې له ۸ کلنۍ څخه کم وي بايد د ماشومانو په ځانګړي سيټ کښې ځای پر ځای يا کښېنول شي. ماشومان چي عمرونه يې تر ۲ کلنۍ کم وي بايد د شا سيټ او د ماشومانو ځانګړي سيټ کې داسي کښېنول شي چي د ماشوم مخ د موټر شا ته وي خو که موټر يوازي د مخ سيټ لري نو بايد د مخ په سيټ کې هم عيني شکل کښېنول شي. د ماشومانو دپاره عموماً دوه ډوله سيټونه کاريږي، Carseat او Booster Seat، لومړی يې د دوه کلن او د هغه څخه کم عمر لرونکو دپاره کاريږي او دوهم يې د دري کلن او تر هغه لوړ عمر لرونکو دپاره کاريږي. خو ماشومان چي بغيره ځانګړي سيټ څخه موټر کې سفر کوي، بايد دا لاندي لارښووني په نظر کې ونيسي.

- د کمربند لاندي برخه پر ورونو پرته وي خو ډيره کش يا ټينګه نه وي
- د کمربند لوړه برخه د اوږو او ځيګر ترمنځ وي چي غاړي او مغزي ته زيان ونه رسوي
- ماشوم بايد دومره جګ وي چي کمر بند کې سم وتړل شي
- ماشوم بايد دومره وي چي پښې يې سيټ باندي سمي ورسيږي


که کوم ماشوم د کوم طبي ستونزي له امله نشي کولای چي کمربند وتړي او يا هم حساسيت وسره لري، نو مور يا پلار يې بايد تل ځان سره موټر کې د ډاکټر اجازت خط وساتي. خط کې بايد د کمربند د نه تړلو سبب واضيح شوی وي.

**دا د موټروان مسؤليت دی** چي ماشوم د قانون مطابق موټر کې ځای پر ځای کړي. کچيري کوم موټروان ددې قانون څخه پر سرغړوني ګير يا ونيول شي، نو لومړی به ۵۰ امريکايي ډالره جريمه کيږي او که يې دوهم يا دريم ځل دا کار تکرار کړ، نو جريمه به يې ۵۰۰ امريکايي ډالره وي.

کله چي د ماشوم سره سفر کوی:

- د ماشوم ځانګړی سيټ د موټر د شا سيټ په منځ کې ځای پر ځای کړی.
- که لا زياتو مالوماتو ته اړتيا وه، دغه www.vdh.virginia.gov ويب سايت ته مراجعه وکړئ.

- هیڅ کله ماشوم په غیږ کې مه نیسئ. ځکه کچیري خدای مه کړه ټکر رامنځته شي، ماشوم به ستاسو او سیټ منځ کې تر پښو لاندي شي.
- ستاسو د موټر دروازې باید تل بندي او قلف وي. مه پریږدی چې ماشومانو مو د موټر په دروازو ساعت تیر کړي.
- هیڅ کله ماشومان په ډکۍ یا ډاله کې مه پریږدی.
- هغه ماشومان چې عمرونه یې تر ۱۶ کلنۍ کم وي نشي کولای چې د موټر په باډۍ یا د دوه سیټ لڅ موټر په شا کې کښینې. دا یو غیر قانوني عمل دی.



## پنځمه برخه

### مجازات/ جریمې

په دې برخه کې به تاسي لاندي موضوعات زده کړی:

- د جواز سیر یا لایسنس ځنډول
- د جواز سیر لغوه کول
- د جواز سیر د ځنډولو او لغوه کولو اړوند حکمونه
- دdmv نور شرایط لکه:
  - د موټړوان د اصلاح پروګرام
  - طبي بیا لید پروګرام
  - د بیمې د څارني پروګرام
  - د ماشوم اړونده شرایط او مسایل
- الکولي مشروبات او قانون:
  - د جواز سیر ځنډول (اداری)
  - په موټر کې د بې سرپوښه الکولي مشروباتو بوتلان
  - د نشي په حالت کې د ماشومانو لیږد را لیږد
  - د موټر ضبط کول
  - د موټر بیرته ایله کول
  - د الکولي مشروباتو اړوند مسایل چې تر ۲۱ کلنۍ کم عمرونه کسان پکښې شامل وي

کچیري تاسي بعضي مشخص قوانین مات او یا هم تکراراً نقض کړی، ستاسي د موټر چلولو امتیاز شاید یا در ځخه واخیستل او یا هم **وځنډول** شي. کچیري ستاسي جواز سیر یا لایسنس وځنډول شو، تاسو کولای شی د مؤقت یا تعین شوي مودې وروسته د ټاکل شوي جریمې په اداء کولو سره خپل جواز سیر بیرته ترلاسه کړی.

د ځنډ یا Suspension په جریان کې که ستاسو جواز سیر د یوه کال او یا زیات وخت څخه تر وخت تیر شو، تاسو باید د سره لیکلی ازمایښت او د چلولو ټیسټ ورکړی ترڅو بیرته جواز لاسته راوړی.

**لغوه کول** پدې مانا ده چې ستاسو څخه د موټر چلولو امتیاز واخیستل شو. تاسو باید د سره لیکلی ازمایښت او د چلولو ټیسټ ورکړی ترڅو بیرته جواز لاسته راوړی.

کچیري تاسو په دا لاندي سرغړونو محکوم شی، محکمه به مو د موټرچلولو جواز او امتیاز یا دایمي واخلي او یا هم د لنډ مهال دپاره وځنډوي، نو هیله ده ښه چي ورته ځیر شی:

- په نشه حالت کې د موټر چلول
- په نشه حالت کې یو بل څوک په موټر زخمي کول
- بغیره لایسنسه/ جوازه موټر چلول پداسي حال کې چي جواز مو د محمکمې لخوا ځنډول شوی یا اخیستل شوی وي.
- کله چي د محکمې لخوا درته د Ignition Interlock Device د نصبولو امر شوی وي او تاسو نه وي خپل موټر کې لګولی.
- DMV ته درواغ ویل
- د ټکر وروسته نه دریدل
- د موټر چلولو پرمهال، په ارادي یا غیر ارادي ډول د کوم کس وژل.
- په نشه حالت کې په موټر د کوم کس وژل، که څه هم غیرقصدي وي.
- په موټر کې د نشه یې موادو ساتل.
- د موټرچلولو پرمهال د کوم جنایت ترسره کول.
- د بل چاه دپاره د موټرچلولو ازمایښت ورکول، که څه هم د لومړي یا دوهم ځل دپاره وي.
- د پولیسو څخه تښتېدل.
- په قهرجن او بې غوره ډول موټرچلول.
- د تر وخت تیر جواز وروسته د موټرچلول.
- په نشه حالت کې د ټیسټ کولو څخه انکار کول.

پدې اړه د لا زیاتو مالوماتو لپاره، د DMV ویب سایټ ته سر ورښکاره کړئ!

## د dmv نور شرایط، د جواز لغوه او ځنډول

## د موټروان د اصلاح پروګرام

کچیري تاسو د ویرجنیا اوسیدونکي یاست نو پوه شی چي ستاسو د dmv دفتر ستاسو د موټرچلولو تاریخچه او مالومات پخپل دفتر کې ساتي. کله چي تاسو په کوم غیرقانوني عمل مرتکب کیږي نو د لایحي له مخي ډې ایم وي تاسو ته منفي پوینټونه یا نمري درکوي او څومره چي ستاسو منفي نمري ډیریږي هغومره تاسو ته تاوان کوي. مثلاً، کچیري تاسو په زیات سرعت باندي ګیر شی، یا کومه حادثه ترسره کړی چي هغه کې تاسو ملامت

یاست، یا هم په نشه حالت کې موټر وچلوی او ګیر شی، او داسی نور. نو ددې ټولو ریکارډ یا تاریخچه د ډي ایم وي سره تل وي. د زیاتو مالوماتو لپاره دغه ویب سایټ www.dmvnow.com ته مراجعه وکړی.

تر اتلس کلنۍ کم: کچیري ستاسو عمر تر ۱۸ کلنۍ کم وي او تاسو کوم غیرقانوني عمل ترسره کړی او د ډي ایم وي لخوا درته منفي نمري درکړل شوې، نو تاسو مکلف یاست چې د موټروان د اصلاح پروګرام کې ګډون وکړی. اما کچیري تاسو د ۹۰ ورځو په جریان کې داسي ونه کړل، ستاسو څخه به د لنډمهال دپاره جواز واخیستل شي او د بیرته لاسته راوړلو دپاره مجبوره یاست چې بیرته د سره پروسه مخته یو شئ.

کچیري د دوهم ځل دپاره په کوم جرم واوړی، د ۹۰ ورځو دپاره به ستاسو جواز سیر لغوه شي. په دریم ځل جرم سره به مو جواز سیر یا د ۱ کال دپاره لغوه شي او یا هم ترڅو چي تاسو اتلس کلنۍ یا نوولس کلنۍ ته رسیږي.

اتلس کلن یا نوولس کلن: کچیري ستاسو عمر ۱۸یا ۱۹ وي او تاسو کوم غیرقانوني عمل ترسره کړی او د ډي ایم وي لخوا درته منفي نمري درکړل شوې، نو تاسو مکلف یاست چي د موټروان د اصلاح پروګرام کې ګډون وکړئ.

اتلس کلن یا لوړ: که مو په یوه کال کې ۱۲ منفي نمري یا ۲۴ میاشتو کې ۱۸ منفي نمري ترلاسه کړي، نو د DMV د لایحي له مخي تاسو باید د اصلاح په موخه د ډرایوینګ درس/کورس ووایاست. اما که مو د یو کال په جریان کې ۱۸ منفي نمري یا په دوه کال کې ۲۴ منفي نمري ترلاسه کړي، نو د DMV لخوا به ستاسو څخه د ۹۰ ورځو دپاره د موټر چلولو جواز یا لایسنس واخیستل شي او تاسو به د ډرایوینګ کورس ته معرفي شی. د لا زیاتو مالوماتو لپاره www.dmvnow.com ویب سایټ ته ورشئ او یا ۱۱۴ شمیرې ته زنګ ووهئ.

## د طبي معاینې پروګرام

کله چي DMV ته کوم راپور راورسیږي چي د موټرچلوونکي رواني یا فزیکي حالت ښه نه دی او موټرچلوونکی نشي کولای چي په سمه او عادي توګه موټر وچلوي، نو بیا نوموړی موټرچلوونکی د DMV لخوا تر طبي معاینې لاندي نیول کیږي. د حالاتو سره سم، کیدای شي DMV ستاسو څخه ستاسو د ډاکټر نظر او مشوره وغواړي او یا هم ستاسو څخه د سره نظري او عملي آزموینه واخلي، خو اصلي پریکړه به هم هغه وخت ستاسو د رواني او فزیکي حالت سره سم کیږي.

کله چي طبي آزموینه یا معاینه ترسره شي، نو DMV به پریکړه وکړي چي:

- ستاسي څخه د موټر چلولو امتیاز واخلي
- ستاسي د موټر چلول محدود کړي
- ستاسو څخه د طبي آزموینې ربعه واره راپور وغواړي او،
- که همدا پروسه پرهمدې ځای ختمه او تاسو ته د موټرچلولو بشپړه امتیاز درکړي.

کچیري د رواني یا فزیکي حالت له امله د DMV لخوا ستاسو جواز واخیستل شو، نو د بیرته ترلاسه کولو دپاره ځیني اسناد لکه د اوسیدو ثبوت نه پکاریږي، بلکه تاسو کچیري جواز مو تر وخت تیر شوی نه وو، د هدایت مطابق خپل جواز بیرته ترلاسه کولای شی.

## د بیمې د څارلو پروګرام

DMV ستاسو د موټر د بیمې یا INSURANCE د څارلو مسؤلیت لري. کله چې تاسو لایسنس ترلاسه کوی یا یې نوی کوی، نو ستاسو څخه د بیمې پوښتنه کیږي چې ایا ستاسو موټر بیمه لري که نه؟ که مو موټر بیمه نه درلودل، باید ۵۰۰ امریکایې ډالره جریمه DMV ته ورکړی او یا هم اسناد ور وښیاست چې تاسو د موټر بیمه لری. خو که مو د بیمې په اړه غوښتل شوي اسناد DMV ته برابر نه کړل، ستاسو څخه لایسنس اخیستل کیږي او یا هم که مو پر وخت خپل د موټر بیمه نوي نه کړل، هم مو لایسنس درڅخه اخیستل کیږي.

## د ماشومانو د مرستي شعبه

د ماشومانو لپاره د مرستي شعبه یا Childcare Support Division د DMV سره نژدي کار کوي او کچیري ستاسو ماشومان په وړکتون کې وي او تاسو تر ۹۰ ورځو د هغوی فیس ورنکړی او یا هم د وړکتون لخوا تاسو ۵۰۰۰ امریکایې ډالر پوره وړي شی نو ستاسو څخه به لایسنس واخیستل شي. کچیري ستاسو د ماشومانو په ارتباط د محکمي لخوا وغوښتل شی او تاسو حاضر نشی، هم به مو لایسنس واخیستل شي.

## الکهول (شراب) او قانون

کچیري په نشه حالت کې موټر چلوی او بیا ګیر یا ونیول شی، نو جریمه یې سخته ده. کچیري پولیس پرتاسو د نشه یې فکر وکړي او تاسو ودروي او ستاسو څخه په هغه شي کې د ساه ورکولو غوښتنه وکړي او تاسو یې غوښتنه ونه منی، نو پولیس ستاسو د ګرفتارولو یا نیولو پوره صلاحیت لري. کچیري تاسو کوم ټکر کې شامل یاست او پولیس دربانديي د نشه یې فکر وکړي، پولیس پوره صلاحیت لري چې تاسو بغیره Warrant یا د محکمي امر څخه ونیسي.

## د لایسنس د اخیستلو اداري پروسه

کله چې تاسو د پولیسو لخوا ودرول شی او هغوی ستاسو څخه د الکهولی معاینې غوښتنه وکړي او تاسو یې رد کړی او یا مو هم نتیجه تر عشاری صفر آته (.80) زیاته وي، نو ستاسو لایسنس اتومات ډول سره اخیستل کیږي. د لایسنس د ځنډ یا اخیستلو یا Suspension پروسه یې په لاندي ډول ده:

- په لومړي ځل، د ۷ ورځو لپاره
- په دوهم ځل، د ۶۰ ورځو یا ترڅو چې محکمې ته غوښتل کیږي
- دریم ځل، ترڅو چې محکمې پریکړه نه وي کړي.

په وار وار د قانون ماتول کیدای شي چې ستاسو څخه د دایم دپاره د لایسنس د اخیستو سبب شي.

## په موټر کي سرخلاصه الکهولي مشروبات

کچیري تاسو د پولیسو لخوا ودرول شی او هغوی ستاسو د موټر د مخ په سیټانو کي سرخلاصه یا بې سرپوښه الکهولي مشروبات پیدا کړه او تاسو باندي هم د څیښلو علایم ښکاره وه، نو کیدای شي چي تاسو پدې محکوم شی چي د نشې په حالت کي مو موټر چلوی یا DUI واخلی.

## په نشه حالت کي د ماشومانو وړل

کچیري تاسو نشه یعني شراب مو څیښلي وي او موټر کي د ځان سره ماشومان وړی او د پولیسو لخوا درول شی او هغوی ستاسو نشه او شراب څیښل درباندي ثابته کړل، نو علاوه د نورو جریمو به تاسو د پنځه ورځو دپاره په بند هم محکوم شی. او کیدای شي د ۵۰۰ امریکایې ډالرو څخه تر ۱۰۰۰ ډالرو نقدي جریمه هم شی. په دوهم ځل عیني شان جرم سره به ۸۰ ساعته وړیا ټولنیز کار هم ستاسو په جریمه کي ور اضافه کیږي. د ماشوم څخه دلته موخه د هر هغه انسان چي عمر یې تر ۱۷ کالو کم وي ده.

## دموټر ضبط

کچیري تاسو د DUI په جرم ونیول شی، موټر مو سمدلاسه د ۳۰ ورځو دپاره ضبطیږي او که محکمې دا جرم درباندي ثابت کړی، نو موټر به مو د ۹۰ ورځو اضافه وخت دپاره ضبط شي. او کچیري تاسو بغیره لایسنسه یا جوازه پر موټر چلولو ونیول شی، هم به مو موټر د ۳ ورځو او یا هم ترهغو چي لایسنس اخلی، ضبط شي.

## خساره

کله چي تاسو د DUI اړونده حادثه کي ملامت وګڼل شی، نو کیدای شي د تر ۱۰۰۰ امریکایې ډالرو پوري خساره درڅخه واخیستل شي. خو دا خساره شاید تر ځایه او ښاره توپیر ولري او تر ډیره بریده به دولت تحویلیږي ددې دپاره چي امبولانس او نور وسایل یې ستاسو د ټکر ځای ته وقف کړي.

## د الکهولي یا حرامو مشروباتو پیر و پلور

کچیري ستاسو عمر تر ۲۱ کالو کم وي، تاسو د الکهولي مشروباتو رانیول (پیرل)، ساتل، او استعمال نشی کولی. قانون اجازه نه درکوي. کچیري تاسو په غیرقانوني ډول شراب رانیولي وي او تر هغه وروسته پر موټرچلولو ګیر شی، نو دا لاندي قانوني چلند به درسره وشي:

- ➢ د موټرچلولو امتیاز به مو تر یوه کاله اخیستل کیږي، او
- ➢ لږ تر لږه ۵۰۰ ډالره جریمه به ورکوی، یا
- ➢ به ۵۰ ساعته وړیا ټولنیز خدمت ترسره کوی.

## د حرامو مشروباتو برابرول

کچیري تاسو تر ۲۱ کالو کم عمر لرونکي باندي الکهولي یا حرام مشروبات خرڅ کړل، یا مو نشه کړی، او یا مو هغه کس حرام مشروبات برابر کړل چي د محکمې لخوا یې د څیښلو څخه منع شوی وو، نو تاسو به:

- ۲۵۰۰ ډالره جریمه ورکوئ
- د یوه کال لپاره به مو لایسنس اخیستل کیږي او،

- د یوه کال دپاره به بندي کیږي.

### غلط عمر ښودل

کچیري ستاسو عمر تر ۲۱ کالو کم وي اما تاسو د حرامو مشروباتو د رانیول یا استعمالولو په موخه د درواغو یا جعلي شناخت کارت جوړ کړی او یا هم لفظي ورته جعلي عمر ووایاست، په دا لاندي جریمو به واوړی:

- لږ تر لږه ۵۰۰ ډالره نقدي جریمه
- یو کال بند/ حبس
- لږ تر لږه د ۶ میاشتو دپاره د لایسنس لغوه کول
- لږ تر لږه ۵۰ ساعته وړیا ټولنیز خدمت ترسره کول



## شپږمه برخه

### د جواز یا لایسنس ډولونه

پدې برخه کې به تاسې لاندي موضوعات زده کړی:

- د موټرچلولو اجازتلیک یا Learner's Permit
- جواز سیر یا لایسنس
- د سوداګریز موټر جواز یا CDL
- د ښوونځی د بس جواز
- د موټرسایکل اجازتلیک
- د موټرسایکل لایسنس
- نړیوال لایسنس

کله چې موټرچلوی، نو باید رسمي او معتبر جواز هم ولری، بغیره جوازه د ماشین الاتو چلول غیرقانوني عمل دی او کیدای شي تاسو د غیرقانوني عمل په بدل کې جریمه، بندي او یا هم نور مجازات شی.

### د موټرچلولو اجازتلیک یا Learner's Permit

د موټر چلولو اجازتلیک هغه سند دی چې په نظري ازمایښت کې تر بریالی کیدو وروسته تاسو ته د DMV لخوا درکول کیږي. تاسو کولای شي پدې سند سره موټر وچلوی اما ستاسو څنګ کې باید کوم بل لایسنس درلودونکی ناست وي. ددې سند د ترلاسه کیدو ۶۰ ورځې وروسته تاسو کولای شی چې DMV کې د موټر عملي ازمایښت یا ټیسټ ورکړی، او که ازمایښت کې بریالی شی نو به لایسنس درته درکړي.

## جواز سیر یا لایسنس

د لایسنس د ترلاسه کیدو ورسته تاسو کولای شی چي هر ډول کوچنی موټر او هغه کوچني ټرک موټران چي وزن يې تر ۲۶۰۰۱ پاونډه کم وي وچلوی.

د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر د لومړي نیټي څخه تاسو مکلف یاست چي د لایسنس تر څنګ بل شناخت کارت جوړ کړی څکه د فدرال حکومت ملکیت او طیاره کي سفر کول نوموړی شناخت کارت غواړي، او د نوموړي کارت کوم کونج کي به یو ستوری شکله علامه هم وي.

## د سوداګریز موټر جواز یا CDL

پدې جواز یا لایسنس سره تاسو کولای شی چي بغیره د ښوونځی د بس څخه بل هر ډول غټ موټر، ټانګ او ټراکټر چي ۱۶ یا زیات کسان نیسي وچلوی.

## دښوونځی د بس جواز

که غواړی چي د ښوونځی بس وچلوی، نو تاسو د سوداګریز موټر جواز سیر یا CDL ته اړتیا نلری بلکه کولای شی چي ستاسو پر موجوده جواز سیر باندي د ښوونځی د بس چلول اضافه کړی اما د ښوونځی د بس چلولو امتحان به خامخا ورکوی.

## دموټرسایکل لپاره اجازتلیک

پدې اجازتلیک تاسو کولای شی چي د سهار د څلورو بجو څخه د شپې تر نیمايې پوري موټرسایکل وچلوی اما ستاسو سره باید تل یو بل کس چي عمر يې باید د ۲۱ کالو وي پر بل موټرسایکل او یا هم موټر کي روان واوسي چي تاسو وڅاري. په ویرجنیا کي بغیره خولۍ یا Helmet څخه د موټرسایکل چلول منع دي.

## دموټرسایکل جواز سیر یا لایسنس


تاسو کولای شی چي پر موجوده جواز سیر باندي مو د موټرسایکل چلول ور اضافه کړی او یا هم الایده جواز سیر تر لاسه کړی. په دواړو حالاتو کي، تاسو باید DMV ته ورشی او د موټرسایکل چلولو ازمایښت یا امتحان ورکړی ترڅو تاسو ته د موټرسایکل چلولو جواز درکړي.

## نړیوال جواز سیر

نړیوال جواز سیر یو معتبر جواز نه دی بلکه ستاسو د اصلي جواز بهرنی ژبي ته اوښتي ژباړه ده او تاسو ته د موټر چلولو اجازه نه درکوي. په ویرجنیا دغه ډول اجازتلیکونه یا نړیوال جواز سیرونه ستاسو د ښار AAA لخوا ورکول کیږي.

که تاسو امریکا ته په لنډ سفر راغلي یاست او تاسو نړیوال جواز سیر او د هغه ژباړه درسره لری نو تاسو کولای شی چي امریکا کي موټر وچلوی.

# اوومه برخه




## نور اړوند او مهم مالومات

پدې برخه کې به تاسې لاندې موضوعات زده کړئ:

- د پوست د لارې د جواز سیر ترلاسه کول
- د آدرس بدل
- هغه کسان چې نوي ویرجنیا ته راځي/ راغلي
- د موټر پلیټ، راجستر، او نور
- د موټر ارزیابي/ Safety Inspection
- د بیمې شرایط/ اړتیاوې
- د رایې ورکولو ثبت نام
- د بدن د غړو خیراتول

که تاسو ویرجنیا ته تازه راغلي یاست او هم اوس تازه موټرچلول مو زده کړي وي، دغه برخه کې مالوماتو دپاره ګټور تمامیدلی شي.

## د پوست د لارې د جواز سیر ترلاسه کول

DMV د لایحې له مخې تل لایسنسونه یا جواز سیرونه د پوست د لارې تاسو ته استوي، نو که په ازمایښت کې بریالی شوئ، لایسنس به مو پوست کې کورته در ورل شي.

## د آدرس بدلول

که تاسو د یوه ځای څخه بل ځای ته کوچ وکړ، نو تاسو مکلف یاست چې د ۳۰ ورځو په دننه کې DMV ته خپل نوی آدرس ورکړئ ترڅو لایسنس مو ونه ځنډیږي او یا هم غلط آدرس ته ولاړ نشي.

## ویرجنیا ته کوچ کول

که تاسو د بل ایالت څخه ویرجنیا ته راځئ، نو تاسو باید د ۶۰ ورځو په دننه کې د ویرجنیا لایسنس ترلاسه کړئ.

## د موټر پلیټ او راجستر

د ویرجنیا د قانون له مخې چې کله تاسو ویرجنیا ته د اوسیدو په نیت راغلاست، نو باید د ۳۰ ورځو په دننه کې تاسو خپل د موټر لپاره نوي د ویرجنیا پلیټونه واخلی او موټر مو د DMV سره راجستر کړی. د موټر راجستر کارت مو باید تل د ځان سره موټر کې وګرځوی.

## د موټر ارزیابي

تاسو باید هر کال خپل د موټر ارزیابي وکړی او هغه د ارزیابۍ سټیکر مو باید تل د موټر د مخ پر هنداره لګولی وي. پدې اړه د لا ډیرو مالوماتو لپاره www.vsp.virginia.gov ویب سایټ ورشئ.

## د موټر ارزیابي کول

تاسو باید هره میاشت او یا هم تر اوږده سفر مخکې خپل د موټر څلور سره ټایرونه چیک کړی چې کوم مشکل خو به نه لري. تاسو کولای شی د سکې د تخنیک څخه استفاده وکړی:

یوه سکه (چې د ابراهیم لینکن تصویر وربانديي وي) راواخلی او د موټر ټایرونو په درز کې یې ورکړی، کچیري د ابراهیم لینکن سر په ټایر کې پټ شوو، نو ستاسو د موټر ټایرونه ستونزه نلري او که نه شو پټ، پدې مانا چې د موټر ټایرونه مو باید بدل کړی. ددې ترڅنګ مو باید موټر د ټایرونو هوا هم چیک کړی.

## د بیمه کولو شرایط

کله چې تاسو DMV ته د موټر د راجستر او پلیټونو د اخیستلو په موخه ورځی، نو هغوی ستاسو څخه ستاسو د موټر بیمه حتماً غواړي او که یې بیمه نه کړی نو ۵۰۰ ډالره مو جریمه کوي. ستاسو د موټر بیمه باید لږ تر لږه دا لاندي شیان په بر کې ونیسي:

- ۲۵۰۰۰ ډالر د یوه نفر د ژوبل کیدو یا مرګ لپاره
- ۵۰۰۰۰ ډالر د دوو یا ډیرو نفرو د ژوبل کیدو یا مرګ لپاره
- ۲۰۰۰۰ ډالر د ملکیت د خرابیدو لپاره

د بیمې شرکتونه کیدای شي ځانته خپل شرایط ولري او د بیمې اندازه او مقدار هم شاید یو له بل سره توپیر ولري. خو DMV ته د بیمې د نه درلودلو په موخه پورته ذکر شوي جریمه ورکول پدې مانا نده چې تاسو د بیمې د اخیستلو خلاص شوي یاست بلکه هغه یوازې جریمه ده او تاسو ته د موټر د راجستر او پلیټونو د اخیستلو دپاره پکار درځي، نور هیڅ نه. د موټر دپاره بیمه اخیستل اړین دي که څه هم تاسو موټر څخه استفاده نه کوی. کچیري مو غوښتل چې د موټر څخه مو استفاده ونکړی، نو پلیټونه یې باید ژر تر ژره DMV ته تسلیم کړی.

کچیري تاسو بغیره بیمه څخه پر موټر چلولو ونیول شی، نو ستاسو لایسنس به د موقت وخت دپاره لغوه شي ترڅو چې تاسو ۶۰۰ ډالره جریمه نه وي ورکړي او یا مو د موټر دپاره دري کلنه بیمه نه وي اخیستې.

### د رايي ورکولو لپاره نوم ليکنه


تاسو بايد لږ تر لږه د اتلسو کالو او د امريکا تبع يا سټېزن ياست ترڅو وکولای شی چي د راپي ورکولو دپاره نوم ليکنه وکړی او يا هم رايه استعمال کړی.

### د بدن د غړو خيراتول

کچيري تاسو غواړي چي د مرګ وروسته ستاسو د بدن غړي يو چاه ته خيرات کي ورکړی، نو د لايسنس د اخيستلو پرمهال په فورمه کي هو يا نه په نښه کړی. کچيري ستاسو عمر تر اتلسو کالو کم وي، تاسو بيا هم کولای شی چي هو يا نه وټاکی اما د ورکولو او نه ورکولو پريکړه به ستاسو مشران کوي. پدې اړه د زياتو مالوماتو لپاره www.donatelifevirginia.com ويب سايټ ته سر ورښکاره کړی.

## آتمه برخه

### د نظري ازمايښت يوه نمونه



1) د دغه سړک نښې مانا:
   a. د خطر علامه
   b. د حق اوليت علامه
   c. د ريل د تيريدو لاره
   d. د سرعت حد





2) د دغه سړک نښې مانا:
   a. بيرته مه تاويږه
   b. کونج لاره
   c. راسته يا چپه لاس ته تاو شه
   d. يو اړخيزه لار



3) د دغه سړک نښې مانا:
   a. راسته لاس ختميږي، چپه لاس ته واوړه
   b. د سړک غاړه
   c. سړک باندي ډب دی
   d. دا لين ژر ختميږي، راسته لاس ته واوړه



4) د دغه سړک نښې مانا:
a. کلیسا
b. کلینیک
c. څلور لاري
d. ریل تیریږي




5) د دغه سړک نښې مانا:
a. تاسي کولای شی چي سره اشاره باندي تاو شی
b. یوازي راسته خوا کي تیریدای شی
c. یوه اړخیزه لار
d. پر سره اشاره تیریدل منع دي

6) کچیري تاسو د شرابو یا بیر د څښلو وروسته موټر چلوی، نو باید خبر واوسی چي الکهولی مشروباتو ستاسو پر کوم ځای آغیز کوي:
a. ستاسو پر حوش او هوس باندي
b. ستاسو پر دید باندي
c. ستاسو پر قضاوت باندي
d. او که ټولو باندي

7) کچیري تاسي پر یخ نیول یا ښوویدونکي سړک موټر چلوی او درولو ته اړ شی:
a. په کراره بریک ونیسی او ودریږی
b. په نورمال ډول بریک ونیسی او ودریږی
c. بریک مه نیسی او پریږدی چي موټر خپله ودریږي
d. په زوره بریک ونیسی او ودریږی

8) د دریدلو دپاره باید څنګه په لاس اشاره وکړو:
a. راسته لاس کښته نیول
b. چپه لاس مکمل او سیده نیول
c. چپه لاس کښته نیول
d. چپه لاس لوړ یا پورته نیول

9) کله چې د ښوونځی بس ولاړ او د کښته کولو یا پورته کولو په حالت کې وي نو پر همدغه سړک نور روان موټران باید څه وکړي:
   a. په کراره تر بس تیر شي
   b. خپل سرعت کنترول کړي
   c. ودریږي او بیا احتیاط سره تر تیر شي
   d. او که ودریږي او د بس تر روانیدو انتظار شي.

10) کچیري تاسي په کومه پیښه کې شامل واوسی، نو:
   a. هغه کس نژدي روغتون ته یووسی
   b. کور ته ولاړ شی او د پیښي په اړه پولیس خبر کړی
   c. ودریږی، د ټپیانو سره مرسته وکړی، پولیس خبر کړی، یو له بله سره مالومات تبادل کړی او خپل د بیمې کمپنۍ ته خبره کړی
   d. خپل موټر وګوری چې خراب شوی خو به نه وي

**صحي ځوابونه:**

1. A, 2. D, 3. A, 4. C, 5. D,

6. D, 7. A, 8. C, 9. D, 10. C

*دغه پښتو ته ژباړل شوی سند او متن یوازي ژباړونکي (متین ذاکر) پوري اړه لري، پلورل او یا بل چاه پوري منسوبول یې منع دي.*